اَلنِّكَاحُ مِنْ سُنَّتِي (الحديث النبوی صلی اللہ علیہ وسلم)

تحفۃ النکاح

(یا)

آدابِ مباشرت

حضرت مولانا محمد ابراھیم صاحب پالن پوری

شیخ الحدیث مدرسہ عربیہ تعلیم الاسلام آنند (گجرات)

پښتو ژباړه:

ابو مزمل آخند زاده

ناشر:

مکتبہ رحمانیہ، کانسی روڈ کوئٹہ 0333-7806049

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

اَلنِّكَاحُ مِنْ سُنَّتِیْ (الحدیث النبوی ﷺ)

تحفة النکاح

(یا)

آدابِ مباشرت

د کوزدې، واده ، او اولی شپې څخه نیولی تر ولیمې ، عقیقې پورې خاوند او ښځې ته درسول ﷺ دسنتو په رڼا کې دټول ژوند تیرولو داصولو طریقو اوآدابو بهترینه مجموعه.

حضرت مولانا محمد ابراهیم صاحب پالن پوری
شیخ الحدیث مدرسه عربیه تعلیم الاسلام آنند (گجرات)

پښتو ژباړه :

ابو مزمّل آخند زاده

ناشر :

مکتبه رحمانیه، کاسي روډ، کوئټه : 03337806049

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

د کتاب پیژند پاڼه :

نوم :: تحفة النکاح یا آدابِ مباشرت

مصنِّف :: حضرت مولانا محمد ابراهیم صاحب پالن پوری

ژباړه :: ابو مزمل آخند زاده

تصحیح :: مولانا حافظ محمد احمد الحقانی

کمپوز :: حافظ نور احمد نورانی

اداره :: العلم کمپیوټرز ، کوټه ، پاکستان 📱 : 03218016371

ناشر :: مصطفیٰ خان (ماشوم)

مکتبه :: مکتبه رحمانیه، کاسی روډ کوټه . 📱 : 03337806049

قیمت :: ۳۵ روپیه

د ژباړې او کتابت ټول حقوق یې له ناشر سره محفوظ دي

خبرتیا : د هر قسم قرآن کریم ، پارې ، یٰسین او عربي ، پښتو ، فارسي دیني کتابو د پاره زموږ مکتبې (**مکتبه رحمانیه ، کاسی روډ**) ته رجوع وکړئ ، په ارزانه قیمت ښه چاپ تر لاسه کړئ .

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

فهرست

شماره	مضمون	مخ
١	دمترجِم عرض.................................	٦
٢	مقدمه...	٨
٣	دځوانۍ ابتدآء (علامې)............................	١٠
٤	دځوانۍ جذبات او اُمیدونه..........................	١١
٥	دځوانۍ صحیح حفاظت..............................	١٢
٦	دځوانۍ حفاظت څنګه پکار دی ؟..................	١٤
٧	دورېښتانو وغیره صفائی..............................	١٥
٨	داصلاح طریقه..	١٧
٩	واده کله کول پکار دی ؟.............................	١٨
١٠	درشتې (کوزدې) کولو آداب........................	١٩
١١	څنګه انجلۍ لټول پکار دی ؟........................	٢٠
١٢	تر کوزدې مخکې یو نظر کتل........................	٢١
١٣	ددینداری خیال..	٢٢
١٤	خاندان او مال وجمال ته مه ګوری....................	٢٤
١٥	کوزده څنګه وی ؟.....................................	٢٧
١٦	دواده تاریخ مقررول....................................	٢٨
١٧	دنکاح آداب...	٢٨

Download from: www.aghalibrary.com
Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	مخ
۱۸	په نکاح کی کم نیتونه کیږی ؟	۲۹
۱۹	نکاح باید چی علی الاعلان او په مسجد کی وی	۳۱
۲۰	نکاح به څوک وایی ؟	۳۱
۲۱	پرنکاح ویلو باندی ددوستانو مبارکی	۳۲
۲۲	په نکاح کی باید مهر څومره وی ؟	۳۲
۲۳	درخصتی اسلامی طریقه	۳٤
۲٤	شبِ زفاف (یعنی اوله شپه)	۳٤
۲۵	دانبساط اسباب څه دی ؟	۳۵
۲٦	مهرِ معجّل	۳۵
۲۷	په اول ملاقات کی به څه وایی اوکوی ؟	۳۵
۲۸	په صحبت کولو کی دی تلوار نه کوی	۳۷
۲۹	ښځه باید مانوس کړل سی ؟	۳۸
۳۰	دمحبت سره خپل دعزت خیال هم ساته	۳۸
۳۱	آیا اوله شپه لکه شبِ قدر داسی ده	۳۹
۳۲	دجماع آداب	٤۰
۳۳	دجماع فضیلتونه	٤۰
۳٤	ښځه باید څنګه مآئله کړل سی	٤۱
۳۵	جماعو ته دښځی آمادګی ضروری ده	٤۲
۳٦	بوازی والی ضروری دی	٤۳

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	مخ
۳۷	دجماع دعا................................	٤٤
۳۸	په دعا ویلو سره به شیطانی تاثیر نه وی................	٤٤
۳۹	که ژر انزالیدی نودذهن څخه دی هغه خای وباسی.....	٤٥
٤٠	ترڅوچی ښځی ته اطمینان نه وی حاصل سړی ته دهغې څخه جلا کیدل نه دی پکار................	٤٥
٤١	دجماع څخه چی فارغ سی جلا کیدل..........	٤٦
٤٢	یوړیر بد اوناوړه عمل دنارینه اندام ښکل..........	٤٦
٤٣	په حیض او نفاس کی جماع حرامه ده..............	٤٩
٤٤	دشپې دیوازی والی خبری دوستانوته رسول حرام دی..	٤٩
٤٥	ددرو جماعو په مابینځ کی درمیانه موده..............	٥٠
٤٦	کثرتِ جماع صحت ته سخت ضررمند دی.............	٥٠
٤٧	پر خپل انجام نظر وکړه........................	٥١
٤٨	جماع دی په کم وخت کی وی...................	٥٣
٤٩	دجماع طریقه................................	٥٤
٥٠	دپیغلې دپاره پردهٔ بکارت ضروری نه ده.............	٥٦
٥١	دجنابت دغسل بیان اودهغه طریقه..................	٥٧
٥٢	دجنابت په غسل کی دځنډ کولو له امله درحمت ملایکی کور ته نه دا خلیږی..................	٥٨
٥٣	زنا او دهغې بیان.....	٥٩

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	مخ
٥٤	دلواطت اونورو افعالو بیان................................	٦٠
٥٥	دولیمې بیان................................	٦٠
٥٦	دخاوند اوښځې حقوق یوپر بل باندې................................	٦٢
٥٧	دیو دبل دمزاج خیال ساتل ضروری دی................................	٦٢
٥٨	پر نارینه باندې دښځې حقوق................................	٦٤
٥٩	شرعی حقوق................................	٦٤
٦٠	اخلاقی حقوق................................	٦٥
٦١	دنارینه دپاره دښځې داصلاح طریقې................................	٦٦
٦٢	دښځې پر بد اخلاقی باندې صبر................................	٦٨
٦٣	پر ښځې باندې دخاوند حقونه................................	٧٣
٦٤	دحمل ابتدآء ، یو ښو خبری ا................................	٧٦
٦٥	دولادت (کوچنی پیدا کیدو) بیان................................	٨٣
٦٦	بې له ضرورته دی دزیږونې پرمهال هسپتال ته نه ځي...	٨٣
٦٧	تحنیک سنت دی................................	٨٤
٦٨	دعقیقې بیان................................	٨٤
٦٩	ښه نوم دی پر کښېښنږل سی................................	٨٥
٧٠	داولاد پر وفات باندې صبر................................	٨٥
٧١	درضاعت بیان................................	٨٦
٧٢	داولاد تربیه................................	٨٧

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

شماره	مضمون	مخ
۷۳	داولاد پر ذمه باندی دمور او پلار حقوق..............	۸۸
۷٤	دبنی آسرآئیلو ددرو کسانو واقعه..................	۸۹
۷۵	دحضرت موسیٰ عليه السلام دجنت ملگری.................	۹۰
۷۶	که مور دچا څخه ناراضه وه نو دمرګ پروخت به یې کلمه پر ژبه نه جاری کیږی..................	۹۱
۷۷	دمور او پلار اطاعت....................	۹۱
۷۸	مهم او ضروری سوالونه او جوابونه..............	۹۲
.....	..........................تمت..........................	

ناشر:

مکتبه رحمانیه ، کاسی روډ ، کوئته . : 03337806049

Maktabah Rahmaniyah, Kasi Road, Quetta

کمپوزنګ اینډ ډیزایننګ :

العلم کمپیوټرز ، کوئته ، : 032180216371

AL-ILM Corporation Ltd
Hafiz Noor Ahmad Noorani

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

دمترجم عرض :

اسلام یو مکمل مذهب دی ، چی دزندګی په هره شعبه کی یې انسان ته واضح هدایات عطآء کړیدی ، خاتم النبیین والمرسلین حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلّم چی آخری نبی او رسول دی ، تر قیامته پوری دراتلونکو ټولو انسانانو دپاره یوه بهترینه او اعلی نمونه دی، لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ .

ترجمه : په تحقیق دی تاسی لره په رسول دخدای کی خوی نیک .

ساقی کوثر ، شافع محشر ﷺ دزندګی په هره شعبه کی دانسانانو درهنمائی دپاره بهترینی او روښانه نمونی پریښی دی ، ددې په اختیارولو سره انسان ددارینو کامیابی او کامرانی تر لاسه کولی سی، په دې دنیا کی دسکون او آرام او په آخرت کی به دخدای ﷻ په رحمت کی ځای او مقام حاصل کړی .

لیکن حسرت او افسوس دی چی نن دپیغمبر رحمت ، مُحسن انسانیت ﷺ امت دیورپ او مغرب په تقلید کی دسید المرسلین ، محبوب ربّ العٰلمین ﷺ بهترینی طریقې تر شا غورځولی .

دښځی او سړی دژوند ټیرولو متعلق اسلام واضح او روښانه هدایات انسان ته ښوولی دی ، چی مسلمان دالله تعالی داحکامو او سید الاوّلین والآخرین ﷺ پر پاکیزه طریقه خپل شهوت پوره کړی ، او که معامله

Download from: www.aqnalibrary.com

Scanned by CamScanner

برعکس سی نو بیا دمختلفو امراضو سره سره به دنیاوی او اخروی زندگی هم تباه او برباده وی، دمخبر صادق، صادق مصدوق ﷺ دپاکیزه طریقو پرېښوولو مطلب دادی : خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ، په دنیا کی هم خساره (او نقصان) اوپه آخرت کی هم خساره (او نقصان) .

دمولانا محمد ابراهیم صاحب پالن پوری مرتب کړی رساله (تحفة النکاح یا آدابِ مباشرت) دښځی او خاوند دجنسي تعلق په باره کی مشعلِ راهِ حیات ده ، په دې رساله کی یې دهدایاتو سره سره سنت طریقې، آداب ، فضائل ، تجاویز ، مختلفی طریقې ، او دحکماوو او اطباوو اقوال وغیره بیان کړیدی ، نوپه مجموعی حیثیت سره دا رساله دعوامو او خواصو بالخصوص دځوانانو دپاره ډیره مفیده ده .

راقم الحروف ددې په آسانه او روانه پښتو ژبه کی ترجمه کړیده ، او دکتابت اوچاپ بار یې د مکتبه رحمانیه ، کاسی روډ ، کوئټه ، مالک ښاغلی حمید الله حنفی صاحب پر اوږو واخیستی ، الله تعالی دی دارساله دمصنف رحمه الله او مترجم او کاتب او ناشر دپاره صدقه جاریه او ذریعه دنجات وګرځوی. ع :

این دعا از من واز جمله جهان امین باد

ابو مزمل اخندزاده عفا الله عنه

تصحیح : مولانا حافظ محمد احمد الحقانی الافغانی عفا الله عنه

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمٰن الرحيم ط

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ، وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى جَمِيْعِ الْاَنْبِيَآءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ خُصُوْصًا عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ الْاَمِيْنِ وَعَلٰى آلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ وَاَزْوَاجِهٖ وَاَتْبَاعِهٖ اَجْمَعِيْنَ اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ . اَمَّا بَعْدُ :

دا وخت دخدای پاک ﷻ په فضل او کرم او دتبلیغی جماعت په سختو محنتو سره ددین طرف ته چی کومه عامه توجّه کیږی ، په دې کی خاص طور نوجوانه طبقه ډیره زیاته متوجّه ده .

دهغو متعلق ددوستانو په ذریعه دا خبره معلومه سوه چی هغوی دسنتِ رسول (علی صاحبها الف الف سلام) شیدایان او عاشقان دی ، او دخپلی ځوانی ټول ژوند دحبیبِ پاک ﷺ دسنتو او داسلام دپاکو او ساده طریقو مطابق تیرول غواړی ، دې ځوانانو ته دټولو څخه اهمه مسئله دځوانی حفاظت او دواده ، کوزدې مخ ته راتلونکی معاملات او کورنی تعلقات دی ، او غواړی چی ددې قسم دینی کتابو اومذهبی معلوماتو څخه ډکو رسالو مطالعه وکړی ، لیکن دا یو اتفاق وګنی چی دواده ، کوزدې (متعلق) او بیا دخپلی

Download from: www.aghalibrary.com
Scanned by CamScanner

(بی بی) سره کیدونکی اندرونی تعلقاتو او معاملاتو باندی مشتمله
څه بنه رساله موجوده نه ده ، نتیجه یی دا وی چی کله دواده وغیره
موقع راځی نو دغیرو دکتابو څخه کار اخلی ، چی په هغه کی
انتهآئی فحش مضامین او اخلاق سوز (اخلاق سوځونکی) خبرونه
او مضامین وی .

ددوستانو اصرار وو چی په دې موضع باندی ددینی مزاج مطابق یوه
رساله دځوانانو مخ ته راسی ، نوډیر بنه ، ددې دپاره چی دغیرو
کتابو دکتلو ضرورت بالکل پیښ نه سی ، او خپله زندگی (ژوند)
درسول الله ﷺ دسُنتو مطابقه تیره کړی، ددوستانو دا خواهش
ډیر بنه مناسب وو اودهغو دخواهش احترام زما پرذمه ضروری وو،
مگر په شروع کی په طبیعت کی کافی تردّد وو ، او بیا په دې
موضوع باندی دمضامینو تیاری یوه لویه اهمه مسئله وه ، خصوصاً
چی ددې قسم (مضمون مطابق) بنه او بهترین کتابونه هم میسّر نه
وو .

لیکن ددې احساس ضرور وو ، چی موضوع خو اگرچی عجیبه ده
، لیکن ضرورت ددې رسالې ډیر زیات دی ، او څه لیری ده ؟ چی
دسنتِ رسول الله ﷺ دژوندی کولو چی بشارتونه پُر ورکړل

Download from: www.aghalibrary.com
Scanned by CamScanner

سویدی په هغه کی شرکت وسی ، او دسعادتِ دارین ذریعه جوړه سی، دالله تعالی په فضل اوکرم می اعتماد وکی، هغه زما دستګیری (امداد) وکی، او دډیر کوشش څخه بعد رساله تیاره سوه ، الله پاک ﷻ دی زما کوتاهیانی معاف کړی ، اودا رساله دی قبوله وفرمایی ، او دټولو خلګو دپاره دی مفیده وګرځوی . وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللهِ بِعَزِيْزٍ .

(حضرت مولانا) **محمد ابراهیم پالن پوری**، خادمِ حدیث نبوی ﷺ مدرسه عربیه تعلیم القرآن ، تعلیم الاسلام ، آنند ، ګجرات

☆ ☆ ☆

دځوانی ابتدآء :

دهلک بلوغت (ځوان کیدل) په شریعت کی په مختلفو علامو سره پیژندل کیږی، داحتلام کیدل وی، یادهغه څخه دیوې ښځی حمل کیدل، یا دشهوت سره انزال کیدل، لیکن که دغه شان یوه علامه دبلوغ نسی ظاهره ، نو دپنځلس ۱۵ کاله پوره کیدو سره په شریعت کی بالغ شمارل کیږی .

دجینکی دبالغ کیدو علامات دحیض راتلل ، یا احتلام کیدل ، یا حمل کیدل ، یا دبیداری په حالت کی په شهوت سره منی وتل ، او

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

که یوه علامت هم ظاهر نسی نو پر پنځلس ۱۵ کاله باندی بالغه شمارل کیږی .

لمونځ ، روژه او نور احکام پر هغې فرض کیږی ، اوس که دغفلت یا نادانی په وجه دهغه په ادا کولو کی کوتاهی کوی ، نو دهغو قضا او تلافی کول ضروری وی .

دبالغ کیدو څخه مخکی کوچنی دمور او پلار تابع وو ، دشریعت دطرف څخه په هغه شی فرض نه وو ، لیکن اوس دبالغ کیدو څخه بعد هغه مستقل سړی شمارل کیږی ، او دشریعت مطهرة ټول احکام دهغه طرف ته متوجه کیږی .

دځوانی جذبات او اُمیدونه :

په عربی ژبه کی یوحکیمانه جمله ده : اَلشَّبَابُ شُعْبَةٌ مِنَ الْجُنُوْنِ ، ترجمه : یعنی ځوانی دجنون (لیونتوب) یوه حصه ده .

او حقیقت دادی چی په کوچنی کی دځوانیدوسره قسم قسم جذبات ، قسم قسم اُمیدونه ځرګند کیدل شروع کیږی ، او دشا وخوا معاشرې ، او دناستی ولاړی دماحول مطابق دهغو پورته کیدل شروع کیږی ، اودیو نوجوان کوچنی دپاره دا ډیر خطرناک او اهم موړ (پړاؤ) دی .

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

دځوانی صحیح حفاظت :

مور او پلار ته پکار دی چې دکوچنی دځوان کیدو سره دهغو بنه خاص خیال وساتی ، دغلط قسم ملګرو او دوستانو څخه دده دلیری ساتلو پوره کوشش وکړی .

دغه شان دسینماګانو ، تماشاګاه ، فلمانو ، افسانو ، لڅ عکسو څخه داخلاق سوز شیانو څخه یې پوره محفوظ وساتی ، دښځو او جینکیو دمحفلو ، او اختلاط څخه یې ډیر لیری وساتی ، ځوانانو ته په خپله هم ددې تمامو خبرو څخه بې پایانه (ډیره) احتیاط کول پکار دی ، که نه وی نو که دځوانی بالکل په ابتدآء کی دخرابی طرف ته ولاړی ، نو بیا دغه صحیح رُخ (لاری) ته را واپس کول تر غره زیات دروند دی ، او دعزت دختم کیدو سره سره دصحّت او قوت ضائع کیدو هم سخته خطره ده ، دغه یوه موقع داسی ده چې په دې کی خرابی دمستقبل پوره زندګی بربادوونکی ده .

ځکه په انسانی فطرت کی یې دوې مادی اینښوول دی : ١. یو خواهش نفسانی ٢. دوهم محبت ، دوستی ، اُنس او دځوانی بالکل په شروع کیدو سره په دې دواړو مادو کی حرکت پیدا کیږی ، او پورته چې مو دکومو خبرو څخه دځان بچ کول ویلی

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

دی ، ددې شیانو څخه په دواړو مادو کی حرکت او پورته کیدل دی، او بیا عقل هم په دې موقع باندی ناقص سی، ددې دپاره ډیر ژر په غلطو ځایونو کی دعشق او محبت تعلق وسی ، په غلطو ځایونو باندی خپل دخواهش پوره کولو کوشش کوی ، اوپه بد کارې کی مبتلا سی ، اوکه په غلط ځای کی ددوستی موقع ملاؤ سوه ، یا دخپل طبیعت په اعتبار ډیر بی باکه ، جری (زړه ور) نه وی نوبیا دخپل خواهش پوره کولو دپاره غلطی او غیرِ فطری طریقې لټوی او داغلام (۱) او جلق ددارنګه عادتو عادت یې سی ، چی دین او دنیا دواړه برباد او صحت یې ختم کیږی ، بلکه ډیر ځلی په مستقبل کی دواده قابل نسی ، او کرار کرار دمړاوی ګل په شان دهغه ټوله زندګی پږمرده کیږی ، او هم دغه شان دغلطو عادتونو څخه ډیرځلي دسوزاک اوآتشک غوندی ناکاره بیماری پیداکیږی، چی دهغو علاج ډیر ګران دی ، ددې دپاره دپنځلسو کلو څخه تر دوه ویشتو ۲۲ کلو عمر پوری ددې خاص اهتمام کول پکار دی (دې ځوانانو هلکانو ته) چی انتهائی پاکیزه کتابونه او نیکلی

(۱). دهلکانو سره بد فعل ته إغلام وایی او په خپل لاس وغیره سره منی ایستلو ته جلق وایی .

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

(بهترین) لټریچر (مضمون) مطالعه کوی ، او دنیکانو (صالحانو) په مجلسو کی دی آمد اورفت وساتی، په دې دوران کی که (ځوانانو) دخپل صحت او ځوانۍ حفاظت وکړو، نو آئنده (راتلـونکی) ټـول ژوند به یې په عافیت اوخوشحالی سره تیرسی، اوکه په دې (نازک) وخت کی ورته غلـط او ناکـاره صـحبتونه مـلاؤ سـوه او خـراب عادتونه پکښې پرېوتل نو خطره ده چې دمرګ او ژوند په کشمکش کی مبتلا سی او ژوند پر تنګ سی .

دځوانۍ حفاظت څنګه پکار دی ؟

۱. هر کله چی کوچنی با شعوره او پوه سی (چی دهغه عمر عمومًـا او ۷ اته ۸ کاله دی) نو هغه دی په جُدا جُدا بـستره ویـده کولـو عادت کړل سی ، اګر که هغه محارم یعنی وررور ، خور وی ، خـو شرعًا یو ځای ویده کیدل منع دی ، ځکه چی په دې وخت کی هم دهغو داخلاقی خرابی اندیشنه ده ، اوبیا دغیر محرمو سـره نـورهم ډیر احتیاط ضروری دی .

۲. دبچیانو دپاره بالکل په خلوت او تنهایی کی (داسی چی په کمره کی بل څوک نه وی) اوسیدل او ویده کیدل ښه نه دی، ورنه دهغو په ذهن کی انتشار پیدا کیږی، چی دمختلفو خطراتو باعث ګرځی،

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

تولو ته په جُدا جُدا بستره ویده کیدل پکار دی .

۳. دځوانی په ابتداء کی دبدن صفائی په خاص طور سره داعضاء تناسل صفائی ډیره ضروری ده ځکه چی (پر ځرمن) خیرې میری جمع کیږی ، خارش پیدا کیږی ، او دځرمنی بیماری پیدا کیږی ، بل دا چی په ګرولو سره شهوت او لـذّت پیـدا کیـږی او نقـصانی اثرات ترې ظاهره کیږی ، تر نامه لاندی وربښتان صفا کـول هـم ډیر ضروری دی .

دوربښتانو وغیره دصفایی موده :

بهتره داده چی هره هفته بالخصوص دجمعې په ورځ دی صـفا یـی کوی ، یعنی نوکان ، بریت برابرول ، ترنامه لانـدی وربـښتان او دبغلو دصفایی څخه بعد دې غسل وکړی، دنامـه لانـدی او دبغـل دوربښتانو صفایی که هره هفته ونکړل سی نو پـنځلس ۱۵ ورځـی وروسته دی یې وکړی، انتهایی موده یې څلوېښت ۴۰ ورځی دی، څلویښت ۴۰ ورځی که تیری سی او صفایی ونکړی نو ګنهګار بـه وی .

۴. ځوانان بچیان دی په یوښه کار کی مشغوله وساتی ، بـی کـاره ساتل ډیره بده خبره ده ، یو دانا (عقلمنـد) ویلـی دی، او ریـشتیا

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

(صحیح) یې ویلي چې: (بې کارې بدترینه مشغله ده) ، په دې (بې کارۍ) سره ډېر ژر آوارګي (لوېږي) پیدا کیږي.

۵. دخرابو دوستانو ، خراب ملګری ، او خراب صحبت (مجلس) څخه لیری اوسیدل ډېر زیات ضروري دي ، دخراب صحبت څخه خوښه (خلګ) هم خرابیږي ، بیا خو دا نو عمره ځوانان دي.

۶. غلط لټریچر ، افسانې ، ناول ، عشقیه قصې او حکایات ، صحبت نامې وغیره ویلو سره نفساني خواهش او رغبت مشتغل کوي، انسان پر غلطه لاره وړي ، ددې څخه ځان ساتل نهایت ضروري دي.

۷. دغه رنګه سینما ، تماشاګاه ، فلمي عکسونه کتل ، غزلې ویل اوریدل ، دځوانو انجونو سره ستر ګې ملاوول ، بد نظري وغیره کول ، دا ټولې خبرې دزهرو څخه کمې نه دي ، ددې څخه هر سړی لره خصوصاً ځوان لره ساتل ډېر ضروري دي.

۸. که په کور کې نوکر (ملازم) یا ملازمه (خادم) او بوډۍ ښځه وغیره ځي راځي نو ددې کور دبچیانو پر تعلقاتو باندې مضبوطه (مستحکم) نظر ساتل پکار دي ، ورنه کله کله هغه په خندا او مزاق کې تباه کوي.

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

۹. مور او پلار لره پکار دی چی داولاد د ښیګڼی او اصلاح دپاره همیشه دالله تعالی څخه دعا وغواړی.

۱۰. دنیکانو سره دمیلان اورجحان ، اوپه ښه صحبت کی دناستی ولاړی او دبهترینو دینی کتابو اورسالو دکتلو ترغیب دی ورکوی.

داصلاح طریقه :

دبچو دځوانی او دهغو دصحت تر ټولو لویه فریضه پر مور او پلار او دکور پر مشرانو راځی ، هغو ته پکار ده چی دنو عمره بچیانو په هر هر حالت اوعادت باندی نظر ولری ، اوپه ډیر حکمت او دانائی سره دی یې دغلطو شیانو څخه وګرزوی ، ددوی دجذباتو او عمر په رعایت ساتلو سره دی هغو ته) ښه واقعات بیان کړل سی ، او بلند همت ، لوړی حوصلې ، پُرِ مغز او دتحقیقی کار کولو شوق دی ورکړل سی، ذهن یې په دې کی مشغوله وساتی، دغه رنګه چی څه وخت خپله څه ښه کارکوی ، یاښه مجلسو ته ځی دصلحآء سره ملاقات کوی ، نو بچیان هم دځان سره ملګری کوی ، چی دهغو برکات هغوته هم نصیب سی، او دماشوموالی څخه ددې شوق پیدا وی اومزه (رغبت ، میلان، مینه ، دښه مجلسو، دصلحاوو دملاقات) پکښی پیدا سی .

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

واده کله کول پکار دی ؟

دځوان کیدو بعد اګر چی دواده خیال او دهغه طرف ته میلان (رغبت ، شوق) کیږی ، لیکن بالکل په ابتدآئی ځوانۍ کی واده کول دصحت دپاره مضر دی ، ځکه چی په دې عمر کی جسمانی اعضآء لویږی ، په اعصابو کی قوت او پوخوالی پیدا کیږی ، که په دې عمر کی واده وسی نو داعصابو دمضبوطوالی څخه مخکی به دبدن جوهر (ماده منویه) ختم کیږی ، اودی دخپلی نادانی اوپه خپل طبیعت قابو نه راوستلو په وجه احتیاط هم نه کوی ، چی ددې څخه اعضآءِ رئیسه هم کمزوری کیږی، ځکه دغذا انسانی دځومره حلول څخه بعد منی جوړیږی، په هغی کی خالقِ کآئنات دانسان دجوړیدو قوت ایښی دی، اوس که دومره قیمتی جوهر (منی) دعقل او شعور دکمی دوجهی داعصابو دکمزوری سره ضآئع کیدل شروع سو، نو بیا ټوله غذا (خوراک) دمنی خزانې طرف ته متوجّه کیږی ، او دوینی څخه تیاریدونکی اعصاب او اعضآء په کمزوری کیږی .

دی نوعمر ځوان لره دخپل صحت اوقوت حفاظت کول پکار دی، اوپه غلطو حرکتو سره ماده منویه (منی) ضآئع کول نه دی پکار،

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

بیا څه موده وروسته چې اِزدواجي (کورني) رشته قائمه سي نو هغه لطف او لذت او سکون به تر لاسه کړي چې دهغه تصور ممکن نه دی، البته که دځوانیدو سره چیری یې کوزده وسي نوبنه ده ، ځکه چې دصحبت او فطري خواهش دجذبې دپاره به یو مرکز په ذهن کې دلنشین سي او دخیال دنیا به یې ددلته او هلته دګمراهی او دغیر وطرف ته دتلو څخه محفوظ وي، لیکن یاده دې وي (دا خبره) چې دواده څخه مخ کې (اګرچې) کوزده وسي ، هغه (جینۍ) اجنبی (پردۍ) ده ، دنکاح مخکې هغې ته لاس لګول ، دهغې سره خبرې کول، هغې ته کتل ناجآئز او حرام دی .

درشتی (کوزدی) کولو آداب:

دهلک دځوانیدو بعد چې کله دهغه دکوزدې خبره اوسي نو بهتره داده چې مخکې دی دهغه رایه معلومه سي ، که هغه په خپله څه ونه وایي نودهغه دملګرو او دوستانو په ذریعه دی دهغه دزړه درغبت (خوبنې) حال معلوم کړي، که دهغه دلی رغبت په یوه ذریعه معلوم سي ، نو دهغه مشران دی په هغه جینۍ دهغې دخاندان په حالاتو او دینداری باندی نظر وکړي، دغه شان دادی هم وګوري چې په دوارو کې ګذاره کیږي او که نه ؟ که په دوارو کې موافقت په نظر

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

ورسي ، نورشته دی ورسره وکړی دلته ددې خبری خیال دی وی چې دهلک درايي بالکل برخلاف یا دهغه په لا علمی کې یوځايي رشته (کوزده) کول دعقلمندی خبره نه ده ، ددې دپاره چې ټول عمر ددې سره اوسی ورنه (که داسي ونه سی) خطره ده چې په هغو کی بې لطفی (بد خوندی) پيدا سی، او دجوړ پرځای به لیری والی سی، لهٰذا دده دزندګی مفاد مخ ته په اېښوولو سره دده په خوښه کوزده تمامه کړی، هو که مور اوپلار تـه انـدازه وی چې هلـک دخپل نفس شرارت او طبعی آزادۍ په وجه سره زموږ خوښ کـړی بنه ځای پرېږدی ، په يوه غلط ځای کی کول غواړی، نو هغه پـوه کول او چیری چې رشته (مور اوپلار) ورتـه کـوی ، دهغـه ځـای خوبیانی او فوائد (دهلک په) ذهن کـی کـښېنول (دمـور او پـلار) اخلاقی فریضه ده ، دغه رنګه به (په) خندا ، خوشحالی کوزده هم وسی، او دمور اوپلار دطرف څخه به زړه هم صـاف وی ، او څـه رنجش به هم پیدا نسی ، بیا درشتو (کوزدو) کولو دپاره دلانـدنیو خبرو لحاظ کول بهتر دی :

۱. دجینکی عمر دهلک څخه (باید) څه کم وی (زیات دی نه وی) یعنی دجینکی عمر دی دوه یا څلور کاله کم وی.

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

۲. دنو عمره هلک دپاره پیعله جینکۍ زیاته مناسبه ده ، ددې دپاره چې دحدیث پاک دارشاد مطابق په دوی کې بنه محبت او موافقت پیدا سي .

درشتې (کوزدې) ښخه مخکې یو نظر کتل :

۳. درشتې (کوزدې) کولو ښخه مخکې دی دواړه یو بـل یـو نظـر سره وګوری ، چنانچه درسول الله ﷺ ارشاد دی، چـې منکوحـه وګوری، په دې صورت کې امید دی چې په دواړو کې محبـت او مینه زیاته پیدا کیږی ، ددې وجه داهم ده چې ډیر وختونه پردا قسم موقعو باندی په اوریدلو خبرو سره انسان په خپل ذهن کې څه ډیره بنه نقشه جوړوی ، او بیا وروسته مخ ته په راتلو باندی هغه (دذهنی نقشې مطابق) خوبیانی پکښې نه وی ، نو بیا ترجنګ پـوری خبـره رسیدی سی .

دوهمه وجه داده چې دهر سړی خوښه جلا جلا وی ، کیدی سـی چې اوریدل سوی خبره وی هغه دده خوښه وی ، او ستا خوښه دده څخه مختلفه وی، دپښتو مشهورمتل دی : هر سړی او خپل طبیعت پوه سو .

☆ ☆ ☆

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

ددینداری خیال :

۴. دجینکی په انتخاب کی ضروری ده چی دهغې أخلاق ، اوپه امورِ خانه داری کی واقف کیدلو ته ضروری وکتل سی ، په دې سلسله کی درسول پاک ﷺ ارشاد مبارک موږ ته بهترینه لار ښئي چنانچه رسول الله ﷺ فرمایي: دښځي سره نکاح دڅلورو خبرو څخه دیوې خبری دلحاظ په ساتلو سره کیږی ، څوک حُسن او جمال ګوری (نکاح) کوی ، څوک په دې کی دمال طرف ته نظر کوی ، اوڅوک حسب یعنی دلوړی کورنۍ جینکۍ لټوی ، لیکن کامیابه هغه سړی دی چی هغه دینداری ګوری نکاح کوی .

که غور وکړی نو اول درې شیان په حقیقت کی دانسان دپاره وبالِ جان جوړیدی سی، مثلاً حسن او جمال ډیر ښه او زړه مآئل (خوشحاله) کوونکی شی دی .

مګر زما عزیزانو! هغه (حسن او جمال) ډیر ژر زائل کیدونکی هم دی، خدای ﷻ دی نه کوی (که پرهغې) دچیچک (١) معمولی غوندی حمله وسی، یا یوضرب یا بیماری راسی او هغه حسن او جمال ټوله ختم سی، او هسی هم هغه ابتدایي حسن او جمال دخو

(١). چیچك : دیوې بیماری نوم دی ، چی دمریض پر بدن دانې راوخیژی .

Download from: www.aghalibrary.com
Scanned by CamScanner

کلونو میلمه دی، کله چی څه موده تیره سی داولاد سلسله شروع سی، نودهغه شی (حسن او جمال) ختم کیدل شروع کیږی.

یوه خبره داهم په ذهن کی وساتی: که تا دحسن او جمال کوشش وکړی، نو آخر به هغه ته په خپل حسن او جمال نازوی (چی یو وخت بیا دا دردِ سر سی) لهٰذا اول سوچ وکړه چی دهغې ناز او نخرې ته برداشت کولای سی او که نه؟

بیا پردې حسن باندی دنورو (خلګو) نظر هم وی، لکه څنګه چی تا ددې اراده وکړه، نور خلګ به هم ددې خواهش مند وی، داسی نه وی چی ستا په نکاح کی دراتلو بعد هغه خلګ ستا په حق کی وبالِ جان (دښمن، تکلیف، ضد او رقابت) جوړ سی.

دغه رنګه ددې (خبری) دی هم خیال وی چی ته دحسن او جمال شیدائی یې، هغه هم دځان دپاره دحسن او جمال جامه غواړی، لهٰذا خپل متعلق غور وکړه، چی ته ددې همسر (برابر) یې که نه؟ ورنه داسی به وسی چی ته به دهغې خواهشمند یې او هغه به ستا څخه بیزاره (نفرت کوونکی) وی، نو ددې دپاره به هغه دخپل ټول څه قربانولو دپاره تیاره وی، او هغه به ستا څخه دلیری اوسیدو تدبیرونه کوی، په دې جوړه (خاوند او ښځه) کی لطف څه دی؟

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

ددې دپاره دینداری پرېښوول فقط حُسن او جمال غوره کول حضور ﷺ خوښ کړی نه دی، البته که څه قدر ذل ربا وی نو زیاته ښه ده .

خاندان او مال او جمال ته مه ګوری :

څه خلک هغه وی چې دهغو په نظر کی دمال او دولت بې پناه اهمیّت او دهغه (مال او دولت) وقعت او عظمت وی، او هغه یو مالداره ښځه پردې بنیاد غواړی چې دکور عزّت وی، اوکور آباد سی، ای زما عزیزه ! دا خو ترحسن اوجمال هم ژر زائل کیدونکی دی، دمانښام مالداره سهار ناداره لیدل سوی، بیا هم شاید ته دوکه کیږی چې هغه مالداره ده ، نه (داسی نه ده) بلکه ددې کور والا مالداره دی، آیا دهغو مال ددې ښځې سره راځی ؟ او که راغلی (دا مال) نو څنګه ستا مردانه غیرت ددې دپاره تیار هم دی چې ته سړی او خاوند یې دښځې پر مال او دولت باندی لاړی وڅښې ،

اوکه هغه دمالدار کور وی ، نودهغې ضرورتونه او فرمائشونه هم د هغه اندازې وی ، آیا په تاکی ددې دپوره کولو حوصله هم سته ؟ ظاهره ده چې دفیل خوراک دهغه پکار دی، هغه ستا په معمولی وچه ډوډۍ باندی به قناعت څنګه کوی ، بیا به هره ورځ لعنت

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

ملامت اوری، او مروریدل او پخلا کیدل به دورځی ورځی مشغله وی، او هغه به پرتا حاکمه وی، که دا ټوله لذتونه تاته منظور وی نو بیا نکاح (ورسره) وکړه (بیا) وګوره چی هغه ستا فرمانبرداره ښځه ده اوکه حاکمه ؟ ددې دپاره هوښیارانو ویلی دی، او صحیح (درست) یې ویلی دی: چی په مالداری کی ښځه تر سړی کمه مناسبه ده ، چی شکر ګذاری او نعمتو قدر وکړی .

څه خلګ په نکاح دلوړو (اوچتو) کورو او ښه خاندان تلاش (جستجو، کوشش) کوی چی دهغو په وجه سوه عزت حاصل وی، او پر نورو (خلګو) فخر وکړی، داسی خلګو ته ددې خیال ساتل پکار دی چی دخاندانی نیک وبد مسئله په خپله غیرِ متعینه او دشریعت په نظر کی غیرِ معتبره هم ده ، بیا ددې له وجهی څخه دهغو پرېشانیو خطره هم ده ، چی په پورته (بیان کی) دمال (دولت) او جمال په صورت کی بیان کړل سوی دی .

ددې دپاره صفا خبره داده که دینداره نه وی ، نو مال او جمال یا حسب او نسب مطلق قابلِ اعتماد نه دی، دغه رنګه دبې دینی په صورت کی دښځی عفت (پرهیزګاری) او پاک دامنی هم په خطره کی وی چی دهغې اصل جوهر دی .

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

ددې دپاره په ښځو کې دليدلو لائق تر ټولو اهم شی ديـنـداری ده ، که هغه دلمانځه ، روژې ، پابنده وی، دښه اخلاقو سره متفقه وی او دکور دکارو سره واقفه وی، او دهغې کورنی هم ديـنـداره وی، نو ای عزیزه ! تردې زيات يو نعمت سته ؟ دا هغه جوړه ده چې هغه رسول الله ﷺ خوښه کړيده ، ذدينداری په سلسله کـې ددې هـم لحاظ وکړی چې دهغې عقآئد څه دی، خيالات اورجحانات (ميلان او توجّه) يې څنګه دی، په دې کې ايمانی جذبه سته که نسته لکـن خدا نخواسته که دنوی تعليم اثرات اوبی حيايي او بی حجابی (بـې پردګی) پکښې وی، نو خطره ده چې تاهم دځان سـره ډوب غـرق کړی، او خپل اولاد هم پردې رخ (لار) روان کړی، ددې (رنګـه ښځې بد زبانه او فحش ګو (ښکنځل او پوچ اورد ويونکی) کيدل، دسير او تفريح (منظرو او سيلو شيدائی (دلداره) کيدل، او دخپلو او پرديو سره اختلاط او ميلان او رجحان نقصان رسوونکی دی، او ددغه رنګه ښځې سره تعلق هم مفيد نه دی،

دغه رنګه دښځې په انتخاب کې لاندنی خبری هم وګوری :

۱ . تندرسته وی، په څه هلاکوونکی مرض کې مبتلا اودآئم المرضه نه وی، ۲ . چې په خپل خاندان کې وی نو بهتـره ده ، چـې صـله

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

رحمي هم وسی، ۳. ددواړو مزاج (طبیعتونه) تقریبًا یو قسم وی، مثلاً یو ډیر شوقي وی او بل انتهایی ساده مزاجه وی، نوبیا هم پرِ لُطف زندګی ګرانه ده ، ۴. څه قدر ویونکي لیکونکي او دیني تعلیم یافته وی، بالکل جاهله نه وی، ددې خبرو لحاظ لکه څنګه چې دهلک کور والا یې کوی دغه رنګه دی یې دجینکۍ کور والا هم وکړی، ددې وروسته چې دکوزدې اراده وی نوپه سنت طریقه باندی دی اودس یا غسل وکړی، څلور رکعته دی وکړی ، دوه دصلوة الحاجة ، دوه دصلوة الاستخارة په نیت سره ، ددې دواړو لمونځو (صلوة الحاجة او صلوة الاستخارة) په احادیثو کی وارد سوی دُعاوی دی هم ووایی، او بیا دی دعا وکړی چی الله تعالی دزندګی رفیق (ملګری) ورکړی ، دهغې دتکمیل اسباب پیدا کړی، دواده په مختلفو موقعو کی که ددعا وغیره اهتمام وسی نو انشآء الله دتاوان دفع کوونکی او فائده مند به وی .

کوزده کول څنګه وی ؟

دکوزدې دپاره څه حاصل طریقه نسته ، دا صرف دهلک او جینکۍ دمشرانو په خپلو کی یوه معاهده ده ، که اولیآء (مشران) وغواړی نو دزبانی خبرو اترو یا خط او کتابت په ذریعه یا دیوه دوست وغیره

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

په ذريعه دى وكړى، كوزده كول يوقسم عهد او معاهده ده ، ددې چې تر كومه حده ممكنه وى انجام ته رسول پكار دى، ورنـه (كـه داسى ونسى) بد عهدى به وى چې په شريعت كى انتهائى ناخوبنـه (عمل) دى .

دواده تاريخ مقررول :

دكوزدې كولو وروسته ددواړو طرفو اوليـآء (مـشران) دى زبـانى دخط او كتابت په ذريعه يا ديوه سړى په ذريعه دنكاح تاريخ مقـرر كړى، په دې سلسله كى چې څومره غلط قسم رسومات رآئج دى هغه ټول واهيات او لغو (بې هوده ، فضوله) شيان دى، ددې څخـه حتى الامكان ځان ساتل پكار دى، ددې كوزدې وروسته چې كـوم تاريخ مقرر كړل سى، ددې مطابق درشته والى او دنـورو (خلكـو) په موجودګى كى دى په انتهايى سادګى سره وكړى (وتړى) .

دنكاح آداب :

دنكاح ډير آداب دى ، په دې ټولو كى اهم ادب دادى چې په نكاح كى نيت ښه لرى ، ددې دپاره چې كه ددنيا په كار كى هم نيت ښه وى نوپردې باندى ثواب تر لاسه كيږى ، بيا نكاح كول خو سـنت دى، نو څومره چې نيت ښه وى هغه رنګه ثواب رسيږى، بياپه يوه

Download from: www.aghalibrary.com
Scanned by CamScanner

عمل کی ډیر نیتونه هم کیدی سی، اوپردې تمامو نیتو جلا جلا ثواب هم رسیږی، په دې اعتبار سره نکاح یو عمل دی، لیکن څومره چی نیتونه کوی دومره ثواب زیاتیږی . په نکاح کی لاندی درج نیتونه کیدی سی :

۱. نکاح دی ددې دپاره وکړل سی چی دحضورِ پاک ﷺ سنت ده ، چنانچه دحضورِ اکرم ﷺ ارشاد دی: اَلنِّکَاحُ مِنْ سُنَّتِیْ ، او دسنتو په نیت عمل کولو سره ثواب ورکول کیږی .

۲. په نکاح کولو سره دغلطو کارو (بدکاری) څخه حفاظت کیږی

۳. دنکاح کولو په وجه سره نفس په کنټرول کی وی، او دزړه خیالات ددلته او هلته غلط رَوِی (گمراهی) څخه او نظر دپراګنده کیدو څخه حفاظت کیږی .

۴. حق تعالی ﷻ دنکاح په وجه سره (انسان ته) نیک اولاد ورکړی او هغه ښه کارونه کوی او دمور او پلار په حق کی دعا کوی ، نو پر دې هم ثواب ورکول کیږی .

۵. دعیال داره انسان دعبادت ثواب به نسبت دواده نه کړی تر عبادت زیات وی ، نو ددې ثواب دزیات تر لاسه کیدو نیت دی هم وکړی .

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

۶. دنکاح په وجه سره چې ځومره اولاد کیږی هغه دحضور ﷺ په امت کی دزیاتوب سبب کیږی او حضور ﷺ په دې فخر کوی .

۷. الله تعالی به داسی اولاد عطآء کړی چی ددعوت الی الله محنت وکړی ، پردې سربیره به امت ته هم دینی نفع وی، او دمور او پلار دپاره به داجرِ عظیم سبب جوړیږی .

۸. که کوچنی بچیان مړه سی نو دمور او پلار دپاره دجهنم څخه دنجات ، اوجنت ته دداخلیدو سبب جوړیږی ، دغه رنګه په نکاح کی چی ځومره نیتونه وکړل سی، هغومره ثواب وی، دینی او دنیوی برکتونه به ورته حاصلیږی .

بی فکره او سوچه نکاح کول یا صرف نفسانی خواهش او ددنیاوی لذتو پوره کولو دپاره دومره اهم کار (نکاح) کول ، دمومن او مسلمان کار نه دی، بلکه دابه محضی حیوانی مشغله وی .

۱. دنکاح او واده یو لوی حکمت دلطف او سکون زندګی حاصلول دی، او دا حکمت په دې صورت کی ظاهر کیدی سی، چی دانسان ذهن هم ددې فآئدو وطرف ته متوجه وی، او دمحبت او الفت کومه ماده چی الله تعالی په هر انسان کی اېښی ده داپه کار راوړلو سره دزندګی تیرولو اراده وی .

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

۲. دنکاح دوهم اداب دادی چی علی الاعلان دی وسی ، چنانچه درسول الله ﷺ ارشاد دی: اَعْلِنُوْا النِّکَاحَ وَلَوْ بِالدُّفِّ ، یعنی اعلان دنکاح کوی اگرکه په نغاره وهلو سره وی. گویا په چپه او پټه نکاح نه ده پکار ، په زنا او نکاح کی دغه فرق وی چی زنا (چی حرامه ده) چپه او پټه کیږی ، او نکاح (چی حلاله ده) هغه دمجمعې (ډلی) په مخکی کیږی .

۳. دریم ادب دادی چی نکاح دی په مسجد کی وی، دغه رنګه دیوه لمانځه وروسته دی وی، په خاص طور باندی دجمعې په ورځ یا دجمعې یا مازدیګر دلمانځه وروسته ډیره زیاته افضله ده ، دغه رنګه دزمان او مکان دواړو برکتونه حاصل سی، په داسی مجلسِ نکاح کی دعلماوو او صلحاوو چی څومره مجمع وی هغومره ښه دی، چی دهغو دعا ګانی هم شاملِ حال وی ، او رحمت او برکت نازل وی .

۴. نکاح دی په یو عالمِ دین یا نیک اوصالح سړی وتړی ، اول دې خطبه ووایی بیا دی ایجاب او قبول ور وکړی، په دې کی دی ددې خبری خیال وی چی ناکح دی دقبلولو پروخت پوره جُمله ووایی چی ما قبوله کړه ، صرف قبول ویل کافی نه دی .

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

۵. دنکاح ترلو وروسته دی دوستان او قریبان مبارکی ورکړی ، دهغې دپاره په حدیث کی دا دعا راغلی ده : بَارَكَ اللهُ فِيْكُمَا وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا بِخَيْرٍ وَّ اَخْرَجَ مِنْكُمَا الطَّيِّبَ ، الله تعالی دی په تاسو دواړو کی برکت واچوی ، په خیر او خوبی سره دی تاسی جمع کړی ، او نیک اولاد دی ستاسی څخه پیدا کړی .

٦. او دنکاح ترلو وروسته وچه خرما تقسیمول یا پاشل هم مستحب دی، البته ددې خیال دی وی چی په مسجد کی شور او شُغل او دهغه بی حرمتی ونسی .

۷. په نکاح کی (باید) ولور زیات نه وی، بلکه درمیانه درجه پکار دی، دغه رنګه دنکاح په نورو کارو کی (باید) فضول خرچی او اسراف نه وی، بلکه په اعتدال سره کار کول پکار دی. درسول الله ﷺ ارشاد دی: اَعْظَمُ النِّكَاحِ بَرَكَةً اَيْسَرُهُ مُؤْنَةً ، یعنی په نکاح کی چی څومره خرڅه کمه کیږی هغومره به برکت زیات وی، لهٰذا څومره کم شورش چی وی او خرڅ کم وی ، اوپه آسانی او سهولت سره (نکاح) انجام ته ورسیږی هغومره به انشآء الله برکت وی، دغه رنګه جینکی ته په سامان او اسباب ورکولو کی هم زیات تکلیف نه دی پکار، غور وکړی ، دحضرتِ فاطمې ؓ

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

سامان او اسباب څه وو ، دوه څادره (پړونی) یمنی (۱) چې یو قسم رنګین او لیکه داره طرز وو، دوې نیالۍ چې دالسی (یوه درخته ده. مترجم) دخورو څخه ډکې وی، او څلور ګړې ، دوه بازو بند دسپینو زرو ، او تکیه ، یوه کمبله ، یوه پیاله ، یوه میچنه (دوړو اخښلو آله) ، یوه مشکیزه او داوبو اېښولو لوښۍ یعنی منګی ، او په بعضو روایاتو کی یو پلنګ هم راغلی دی .

حضرتِ اقدس حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانوی ؒ فرمایی چې جینکۍ ته په ورکولو سامان او اسباب کی ددرو شیانو لحاظ کول پکار دی:

۱. اختصار چې دګنجائش څخه دزیات فکر ونکړی .

۲. دضرورت لحاظ ، چې دکومو شیانو سم دستی ضرورت وی هغه ورکړی .

۳. اعلان دی نه وی، ولی دا خو دخپل اولاد سره صله رحمی کول دی، نوروته دښکاره کولو څه ضرورت دی، دحضور ﷺ دفعل څخه چې په روایت کی ذکر دی درې سره امره ثابت دی .

❀ ❀ ❀

(۱). یمن دیوه ملك نوم دی چی دهغه ځای څادرونه مشهور وه . مترجم

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

د رُخصتی اسلامی طریقه :

دواده کیدو وروسته بیا جینکۍ ددې دخاوند کره رسوې ، دې ته رخصتي وايي، رخصتي هم په نهايتِ سادګۍ سره کول پکـار ده ، دجینکۍ کور والا که دخپل کور دیوې ښځې یا خادمې سـره ، یـا دهلک دخواښخه کـه ښـځې راغلـي وي نـو ددوی سـره نـاوکۍ واستوی .

حضور اکرم ﷺ خپله لور حضرتِ سیده فاطمة ؓ دامِّ ایمن ؓ سـره (چې دحضور ﷺ خادمه وه) دحضرتِ علي ؓ کره لیږلی وه .

درخصتي څه خاص طريقه په شريعت کې نسته ، نه دڅـه رسـم او رواج پابندی پکار ده، دغه رنګه دا هم ضروري نـه ده چې کـوم سامان دمور او پلار دطرفه ورکړل سوی وی هغـه ورسـره ولیـږی بلکه وروسته یې هم لیږلی سی .

شبِ زفاف (یعنی اوله شپه) څنګه تیره کړی ؟

کله چې واده او رخصتي وسي ، او ناوکۍ خاونـد خپـل کـور تـه راوستله ، نو اوس یقیناً په دوی کې خلوت او تنهائي وی ، پـه دې سلسله کې دی څه آداب او اصول او څه خبری په ذهن کې وی :

۱. زلمی او ناوی ته پکار دی چې د رخصتۍ څخه مخکې ورځ

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

دارنګه نکړی تیره چی بالکل سترړی سوی وی ، او دآرام هیڅ موقع نه وی ترلاسه سوی، بلکه په ورځ کی دی څه وخت وباسی ، څه وخت آرام کول پکار دی، ځکه چی ددواړو دملاقات په وخت به په طبیعت کی انبساط او شګفتګی او په بدن کی تازګی وی .

۲. که دانبساط اسباب په سهولت سره ترلاسه سی، نو انتظام کول پکار دی ، مثلاً میوه یا مټائی وغیره ، خوشبویی ، دکمرې (خونی) څه قدر زینت .

په بعضو ځایو کی (خلګ) په دې کی بالکل ډیره مبالغه کوی ، او دپلنګ په آرائش او زیبآئش په تیارولو او برابرولو کی په زرو روپی خرڅ کوی ، دا اسراف او فضول خرڅی ده ، ددې څخه ګناه کیږی ، فضول خرچی دشیطان عمل دی .

۳. که دمهرِ معجل (نقد مهر) رواج نه وی، نوبل څه شی دمهر څخه علاوه دهغې دمزاج په رعایت کولو سره هغې ته پیش کول پکار دی، ددې بغیر ددې څخه نفع (فآئده) اخیستل دمردانه غیرت او شرافت خلاف ده .

۴. په اولنی ملاقات دکلاه او خبرو څخه مخکی (السّلام علیکم ورحمة الله) پرتا باندی دی دالله تعالی سلامتیا او رحمتونه وی ،

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

ووایې او بیا دې دښځې (ناوکۍ) پر تندي او ددې پر ورېښتانو لاس کښېږدي ، دا دعا دې ووايي:

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ مِنْ خَيْرِهَا وَخَيْرِ مَا فِيْهَا وَخَيْرِ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا فِيْهَا وَشَرِّ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ

یا الله جَلَّ جَلَالُهُ زه ددې ښځې دخير ښيګړې او دهغه خير چې تا په دې کې ايښې دی، اوپه کوم خير چې تا پيدا کړيده ، ددې تولو ستا څخه سوال کوم ، ددې ښځې دشر څخه او کوم شر اوبدی چې تا په دې کې ايښې ده ، اوپه کوم شر چې تا دا پيدا کړېده ، ددې څخه ستا پناه غواړم .

۵. دا هم په آدابو کې دی چې اول اودس وکړي بيا دوه رکعته صلوٰةِ حاجت وکړي دخير او برکت دتوفق (موافقت ، مطابقت) او محبت او پاکيزګۍ سره دوام او بقاء دصالح او لاد دحصول دعاء دې هم وکړي .

بل دا چې دسلفِ صالحينو دغه عمل وو چې هغوبه دوه يا څلور رکعته لمونځ وکړی، دالله تعالى څخه بې دعا هم غوښتله ، بيايې دخپلې ناوکۍ په مخ کې چې (پردې موقع ناوکۍ) په نهايت زيب او زينت او جوړښت او سِنګار کولو سره راځي ، (سلفِ صالحينو به

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

دناوکی په مخ کی) ددنیا بی وقعتی اوبې ثباتی اودمال اودولت دبی قیمتی تذکره کوله، چی دمال محبت کم وی اودینی رُخ پیدا وی.

او بیا ورسره ورسره دخپل تعلق او محبت او دنکاح څخه مخ کی دهر رنګه بې ګانګی او دنکاح وروسته دبی تکلفه رشتې او تعلق تذکره او دمحبت خبری کوی.

ددې دي ضرور خیال وی، چی زلمی او ناوکی دواده څخه مخ کی اجنبی او بالکل نابلده وو، په مینځ کی دهیڅ قسم څه تعلق نه وو، اوس چی دنکاح په ذریعه تعلق پیدا سو، نوظاهره ده چی په یو وار سره پوره بلدیدی نسی، نه آزادانه (بې تکلّفه) مخ ته راتلای سی، ددې دپاره په جماع او صحبت کی (چی ددې تعلق آخری کړی ده) تلوار هیڅ کله نه دی پکار، بلکه څو شپې دی ددې سره فقط دانسیت اومحبت اوخوش طبعی خبری وی، بیاسو که سږ که داخپل طرف ته مآئله اوخپل ځان ته قریبه کړی، اودصحبت اوجماع دپاره خو ټوله زندګی پرته ده، که په دې (معامله) کی په انتهایی عجلت سره کار واخیستل سی نو دډیرو قسمو نقصانونو اندیښنه ده، لکه:

۱. دښځی په ذهن کی به دا خبره پریوزی چی دنکاح مقصد فقط شهوت پوره کول دی نور هیڅ نسته.

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

۲. ظاهره ده چې ښځه فطرةً حیا داره وی، هغه دومره ژر دهمبستری (کوروالی) دپاره آماده کیدی نسی ، او که آماده یې هم کړه ، نو دهغې په خواهش کی ژر پورته کیده نه پیدا کیږی ، ددې دپاره (په جماع کی بیا) دسړی مخ کی په فارغه کیدو (انزالیدو) سره ددې خواهش نیمګړی پاته سی ، اودې ته به هیڅ لذت محسوس نسی.

۳. اول ځل دجماع کولو نه وجه سره پردهٔ بکارت زآئله کیږی ، او دبی تکلفی نه کیدو اوپه ښځه کی دخواهش نه پیدا کیدو دوجی ښځه دې ته دتکلیف زیات احساس کیږی ، چې دهغې دپاره سوهانِ روح (ناچاره خطر) او دخاوند دطرف ښځه یې په زړه کی دکراهت (نفرت) پیدا کیدو سبب جوړیږی.

ښځه (ځان ته) درانژدی کولو اوهغه بلده کولو دپاره یوه خبره داهم په ذهن کی وساتی چی دنکاح وروسته یوه نوی دنیا مخ ته راځی، اوپه دې کی یو عجیبه او غریبه دلاوری او دل فریبی وی، پرداسی موقع باندی خپل ځان سنبالول ډیر ضروری دی ، چی بالکل عاشقانه مجنونانه انداز ظاهر نکړی، ورنه هغه به تا خپل غلام او خادم ګڼی ، بیا (په خپل خاوند) خپله خبره منل، او خپلی مطالبې په

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

تسلیمول شرع کوی، اونه دی ښځه خپله محکومه (مقبوضه) دکور خادمه ګڼی چی تریو اوترش انداز اختیارکړی چی څنګه خبره کوی بیایې پرتندی ګونجی وی، اودا خیال یې وی چی زمارعب پر کښېنی ، په دې طرز رعب او وقار پیدا کیږی ؟ نه ! بلکه دښځی په زړه کی دخاوند خلاف دنفرت او حقارت جذبات پورته کیږی ، ښځه دکور ملکه عفت جوړه سوی راغلی، په فطری طور سره محبوبه هم وی، او ستا رفیقه حیات هم، ستا په کورنی کارو کی معاونه او مددګاره ، ددې دپاره دمحبت او الفت هم اظهار وی، ورسره دخپل وقار او مقام هم خیال ساتل پکار دی، ددې (طرز) څخه په طبیعت کی شګفتګی پیدا کیږی ، او ستا دحاکم کیدو به هم لحاظ وی .

یوه تنبیه : بعضی خلک شبِ زفاف (اوله شپه) دشبِ قدر برابر با عظمته او دقبولیت ددعا شپه ګڼی، بلکه تردې لاهم زیاته ، دا خیال قطعًا غلط او بې اصل دی، په شریعت کی ددې هیڅ اصل نسته دا رنګه بعضی دا ګڼی چی دمهر روپی بالکل پاکی دی، اودا هم مشهوره ده چی دبیماری پر موقع باندی په دې سره علاج کول پکار دی، چی ژر شفا حاصله سی، نوپه دې کی هیڅ شک نسته

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

چی دمهر روپی دبنځی دپاره حلالی او پاکیزه دی، لکه څنګه چی په نورو حلالو طریقو سره لاس ته کړی مال وی، لیکن داچی په دې سره په علاج کولو سره ژر شفا حاصلیږی، چیری (په کتابوکی) لیکلی نه دی لیدل سوی .

دجماع (مباشرت) آداب :

جماع (صحبت کول او هم بستر کیدل) دانسان هغه طبعی او اهم ضرورت دی چی دهغه بغیر دانسان په صحیح طور سره زندګی تیرول مشکل بلکه تقریبًا ناممکن ده، الله تعالی ددې خواهش دتکمیل جذبه (صرف) په انسانانو کی نه بلکه په تمامو حیوانانو کی هم ایښی ده .

لیکن شریعت دانسان ددې فطری خواهش دتکمیل دپاره څه آداب او طریقې ایښی دی، چی په انسان او حیوان کی څه فرق وسی، که دجماع مقصد دشهوت تکمیل وګرځول سی، نوپه انسان او حیوان کی فرق څه وسو ؟

ددې دپاره ددې آدابو رعایت دشرعی حق کیدو سره سره انسانی حق هم دی، بیا شریعةِ مطهره جماع ته دانسانی حق سره شرعی حق هم ورکړیدی، ددې دپاره یې پر دې باندی ډیر څه فضیلتونه

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

هم بیان کړیدی، چې یو مسلمان ته په دې فعل کې هم ثواب ورسیږی:

چنانچه حضور ﷺ ارشاد وفرمایي: دخپلې ښځې سره جماع کول هم صدقه ده، او پردې ثواب (انسان ته) رسیږی، صحابه کرامو رض عرض وکړو، یارسول الله ﷺ! یو سړی دخپلې ښځې څخه نفساني خواهش پوره کوی په دې کې هم ثواب تر لاسه کیږی.

همدارنګه نبی ﷺ ارشاد وفرمایي: که چیری هغه خپل (نفساني) خواهش یو غلط ځای پوره کوی، نوپر دې ګناه کیده که نه؟ صحابه کرامو رض عرض وکی، ضرور! وې فرمایل چې که دګناه څخه دځان ساتلو دپاره حلال ځای دا مصرف کړل سی نو ضرور ثواب تر لاسه کیږی، اندازه وکړی دخدای پاک څومره رحمتونه دی، پرخپل منونکو باندی.

اوس زه دجماع څه آداب بیانوم:

۱. دجماع یو ادب دادی چې اول (خپله) ښځه په الفت او محبت او بوس او کنار سره مآئله کړل سی، اوداسی صورت باید اختیار کړل سی چې هغه هم جماع ته آماده سی (۱).

---

(۱). دښځې دمآئله کیدو او دهغې دخواهش دپورته کیدو دیر څه =

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

په فطری طور باندی دښځو (طبآئع) طبیعتونـه مختلـف وی، ددې دپاره خاوند لره ددې دطبیعت او فطرت داندازې مطابق اقدام کول پکار دی . که څه وخت ښځه دده دپاره په یوه وجه سره آمـاده نـه وی ، نو دا پردې (جماع) باندی باید مجبوره نکړل سی .

= صورتونه دی، چی دښځی دمزاج او احوال پـه اعتبـار سـره مختلـف دی ، مثلاً دالفت او محبت خبری کـول ، بوسـه او کنـار کـول ، بغـل گیره کیدل وغیره وغیره ، اطبآء (طبیبانو) لیکلی دی چی په ښـځه کـی جنسی خواهش دهغي تې کښېکښل ، دغـه رنگـه دتیـو سرونه سو که سو که مښولو او څوښلو سره ډیر زیات او ډیر ژر پیدا کیږی .
دتیو څوښلو په وجه سره که په خوله کی شیدې راغلی نو دا دی تُـف کړی ، خاونـد لـره دخپلی ښځی شیدې خوړل حرامـی دی ، بلکـه دبعضو علماوو په نزد نکاح هم ماتیږی ، که څه هـم زمـوږ پـه مـذهب کی نکاح نه ماتیږی مگر حرامی ضرور دی . اطبآوو داهـم لیکلـی دی چی دښځی په بدن کی دشهوت مر کز په مختلفـو اعـضاوو کـی وی ، چی دهغو په لاس تیرولو او مښولو سره دهغي شـهوت پورتـه کیـږی ، دقرآئنو (ډول او طریقه ، صورت ، طرز) څخه ددې اندازه کیدی سی ، پر هر حال ترڅو پوری چی په مکمل طور بانـدی ددې خـواهش نـسي پورته ، چی دهغو اظهار په خپله په مختلفو حر کتـو سـره کـوی (مـثلاً خاوند ته نژدې ورتلل، په ستر گو کی خُمار پیدا کیدل، دخاوند پربدن باندی لاس تیرول، هغه موچول، په تناویدو سره دخپل محاسن ښکاره کول، وغیره) تردې وخته پوری په جماع کی مشغوله نسی، سړی لره پکار ده چی له دې څخه مخکی خپل جذبات په واك کی وساتی، چی ددې یو صورت دادی چی دجماع کولو څخـه مخکـی ذهـن دجمـاع وغیره او دهغه دلذت څخه بالکل خالي وساتي . محشی

Download from: www.aghalibrary.com
Scanned by CamScanner

۲. جماع په داسی وخت کی وکړل سی چی په هغه کـی دطبیعـت توازن درست وی، نه زیات دلوږی حالت وی، نه بالکل نس پـوره ډک وی، اونه دپاخانی تقاضا وی، نه دخوب غلبه وی، نه پر ذهن باندی دپریشانیو، بې چینیو، تشو ییښنو هجوم وی.

۳. په جماع کی حتی الامکان پرده کیـدل پکـار دی، ددې دپـاره داسی مکان (ځای) پکار دی چی په هغه کی بل څوک نه وی، بلکه نادان کوچنی هم باید نه وی، (هو که کوچنی بیده وی جـلا خبـره ده) حتٰی چی دحیوانانو په موجودګی کی هم مناسبه نـه ده، دغـه رنګه که کلامِ پاک (قرآن شریف) یا دینی کتابونه وی نوپر هغو دی کپړه وغوړول سی، نیز دجماع په وخت کی لوڅ کیدل ښه نه دی بلکه بقدرِ ضرورت فرض خلاصول پکار دی، او پرنـور بـدن دی کپړه وغیره واچوی.

۴. دجماع پر موقع باندی قبلې ته دی مخ نه وی، دا داحترامِ قبلـه خلاف دی.

۵. دجماع څخه بلکه له ملاقات څخه مخکی هم مناسبه ده چی پـه مسواک یا په منجن وغیره سره خُله صفا کړل سی.

خُله صفا کول هسی سنت او په فطرت کی داخل دی، مګر په دې

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

موقع باندی ددې زیات اهتمام ساتل پکار دی، چې په ابتدائی مراحلو کی دخُلې دبوی څخه یوبل ته اذیت ونه رسیږی، بلکه یو خوشبوداره شی هیل وغیره که په خوله کی واچول سی نو ښه به وی .

٦. دجماع کولو څخه مخکی مذکوره دُعا ویل په صحیح حدیثو سره ثابته ده :

بِسْمِ اللهِ اَللّٰهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا .

دالله ﷻ په نامه سره دا عمل شروع کوم ، یا الله ﷻ موږ دشیطان څخه وساتی، او شیطان زموږ دهغه اولاد څخه لیری کړی کوم چی تا زموږ په نصیب کی لیکلی وی .

درسول الله ﷺ ارشاد دی، که په دې جماع حمل ودریږی ، دی کوچنی ته شیطان نقصان نسی رسولی، دا دُعا دفرضو خلاصولو څخه مخکی ویل پکار دی، که دستر دخلاصیدو وروسته په یاد سوه نوپه زړه کی دی وویل سی، په ژبه سره نه ، او دعا دوارو ته ویل پکار دی .

دشیطان دنقصان نه رسیدو په مطلب کی علماوو څو مطلبه لیکلی دی، مګر یو عمده مطلب بعضو علماوو دا بیان کړیدی ، چی ددې

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

کوچنی ایمان به محفوظـه وی، شـیطان دی دایمـان څخـه لیـری کولای نسی، الله اکبر ! دا څومره لوی دولت دی چی دیوې دعا په برکت سره دکوچنی ایمان محفوظه سی.

۷. عین دصحبت (جماع) په وخت کی خبری کول هم مناسب نـه دی ، نه په دې وخت کی دخپلی ښځی څخـه عـلاوه دیـوې بلـی (ښځی) سره دجماع کولو او لطف اخیستل کیدو خیال په ذهن کی پکار دی، کنی دابه هم دزنا مترادف وی ، البتـه کـه خاونـد لـره دسرعت انزال خطره وی نو دصحبت شـروع کیـدو وروسـته دی ذهن دې طرف ته نه ساتی نو (دا عمل) په ژر نه انزال کیدو کی بـه مفید وی، یعنی دجماع کولو په وخت په ذهن کی ددې خیـال نـه وی چی هغه جماع کوی ، څکه چی ژر انزال نسی.

۸. ښځی او خاوند لره دیو بل بدن ته کتل جـائز دی، هـیڅ ګنـاه نسته ، مګر بلا ضرورته ښه نه دی ، حضرت عآئشه صدیقه ؓ بیان کوی چی نه ما درسول الله ﷺ ستر لیدلی ، اونه ده ﷺ زما ستر په ټوله زندګی کی لیدلی دی.

۹. دجماع یو اهم ادب داهم دی چی تر څو دواړو لره فراغـت او اطمینان نه وسی نو یو دبل څخه دی جلا کیږی نه ، دښځی دفارغه

Download from: www.aghalibrary.com
Scanned by CamScanner

کیدو څخه مخکی لیری کیده دصحت په اعتبار هم مضر دی ،
دفراغت یوه علامه داده چی دښځی هغه ګرفت چی دشهوت په
حالت کی وو هغه ختم سی په بدن کی بې سستی راسی .
عام طور داسی کیږی چی سړی ژر فارغه کیږی ، او ښځی نه
فراغت نه کیږی ، چی دهغه وجه داده چی ښځه په فطری طور
باندی مرطوب طبیعته ده ، او ددې اعضآءِ جنسی پټ وی ، ددې
دوجی ددې په انزال کی ځنډ لګیږی ، او نارینه ګرم طبیعت او دده
اعضآء ظاهر او دباندی دی ، ځکه هغه ژر فارغه کیږی .
پرهر حال چی څنګه خاوند فارغه سی دغه رنګه دښځی تر فارغه
کیدو پوری دی پر دغه حالت باندی بر قراره وی ، او ددواړو
دسکون او فراغت مهمه علامه داده چی ورروسته دواړو لره
داطمینان خوب ورسی ، که دښځی سیرابی نه وی سوی ، اوپه دې
حال کی نارینه جلا سی نو دښځی په زړه کی به دتسکین نه کیدو په
وجه سره دمحبت پر ځای نفرت پیدا کیږی ، او که هر وار دغه
قصه جاری وه نو خطره ده چی هغه دخپل خواهش دتکمیل دپاره
یوه بله لار تلاش نکړی .

۱۰. یوه نهایتی بده او قبیحه او ناوړه خبره چی دهغې لیکل هم زړه

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

نه غواړی لیکن په فیشن پرستو کی هغه شروع سویده ، ددې دپاره ددې دقباحت او بدوالی بیانول ضروری دی ، هغه دا ده چی نارینه خپل مخصوص اندام دښځی په خُله کی ورکوی، او ښځه دا په خُله کی څوښنی ، دا نهایتی قبیح اومنکر (غیلظ ، مردار) فعل دی ، په شریعت کی ددې (مردار فعل) هیڅ ګنجآئش نسته ، دغه رنګه نارینه دښځی شرمګاه په خُله کی نیول، او څټل دی ، دا هم دارنګه نهایتی ګنده (او مردار) فعل دی، یو شریف نارینه یا ښځه ددې (مردار جُرم) ارتکاب نسی کولای، نه په اسلام کی (بلکه په انسانیت کی) ددې (خبیث) فعل ګنجآئش سته ، نه انسانیت اجازه ورکوی، دښکاره حیوانیت او نوی تعلیم او تی وی (دیورپ او مغرب تقلید، په معاشره کی دسکسی فلمانو په عام کیدلو سره) دا قسم حرکتونه زیږول دی ، ددې څخه ساتل پکار دی ، (په طبی لحاظ سره هم ددې خبیث حرکت څخه قسم قس بیماری پیښیږی).

دجماع څخه دفراغته وروسته دواړو ته خپل جنسی اعضآء په جلا کپړی سره صفا کول پکار دی، بلکه په حدیث شریف کی راځی چی استنجآء دی ورهی ، دا اعضآء دی پریولی اودس دی وکړی ،

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

بیده دی سی .

په دې سره پاکیزګی هم حاصلیږی او دوهم وار په جماع کولو کی نشاط پیدا کیږی ، که اودس ونکړی نو کم از کم تیمیم دی وکړی چی په څه درجی کی پاکی حاصله سی .

۱۱. دفارغه کیدو وروسته چی تر څو بدن ګرم وی یخه هوا خوړل نه ده پکار ، دغسی سم دستي یعنی اوبه وغیره هم استعمالول دصحت دپاره مضر دی، البته دیو معمولی مقوی شی په خوړلو کی حرج نسته .

۱۲. بیاکه دوهم ځل دجماع کولو اراده وی نو ترڅو چی رشیتینی خواهش پیدا نه وی، جماع کول دصحت دپاره نقصان رسوونکی ده ، (البته شرعًا یې پر جواز هیڅ کلام نسته) ، دریشتینی خواهش علامه داده چی اعضاءِ شهوت ته دحرکت ورکولو بغیر ، دغه رنګه ذهن دصحبت طرف ته دمنتقل کولو بغیر شهوت پیدا وی، نو پوه سه چی ریشتینی وی، ورنه که داسی نه وی نو بیا نه دی .

۱۳. جماع دی صرف دخواهش پوره کولو په نیت او اراده سره نه وی، بلکه په ښه نیت سره دی وکړل سی، مثلاً نفس او نګاه (نظر) دپراګنده کیدو څخه ساتل، دخپل ښځی حق ادا کول، دنیک او

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

صالح اولاد اوچی داعی الی الله جوړ سی د وغیره اُمورو نیت دی وسی ، نو دلطف او لذت سره سره به ثواب هم ترلاسه سی، بلکه په حدیث پاک کی دصدقې کولو دثواب درسیدو زیری تر لاسه کیږی .

۱۴. ددوهم ځل جماع کولو څخه مخکی دی اسباب دنشاط استعمال کړی او خپله ښځه دی په الفت اومحبت سره پوره تیاره کړی .

۱۵. دا خبره دی هم په ذهن کی ناسته وی چی په حیض او نفاس یعنی دښځی دناپاکی په حالت کی صحبت کول بالکل حرام دی، دحیض (میاشتنی مریضی) کم څخه کم مدت درې ورځی دری شپې اوزیاته موده یې لس ورځی لس شپې ، دنفاس (دکوچنی پیدا کیدو وروسته مریضی) کمه مدت مقرر نه دی، او زیات مدت یې څلویښت ورځی او څلویښت شپې دی، ددې زیات تفصیل په (هدیة النسآء) کی تر لاسه کیږی .

۱۶. خاوند او ښځه دی دشپې دتنهایی خبری دوستانو او یارانو او دخولدکیانو په مخ کی هیڅ کله هم بیان نکړی، دا دسختی گناه خبره ده ، په حدیث پاک کی رسول الله ﷺ فرمایلی دی چی

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

دنورو ومخ ته دارنګه خبری کول ګواکی ددې په مخ کی دغه کار کوی ، چی دانتهایي بی حیایي اوبی شرمی علامه ده .

دجماع مُدّت :

دیو وار جماع کولو وروسته بیا کله جماع کول پکار ده ، په دې کی په قطعي طور باندی هیڅ مدت نسی بیان کیدی، دخلګو دحالاتو او مزاج په اعتبار سره مدت مختلف کیدی سی ، اطبآء (طبیبان) لیکی چی په یوه میاشت کی یو وار دا اختیار کړی ، که زیاته تقاضا وی نو دوه ځله که پردې هم اطمینان نه وی نو بیاپه هفته کی یوځل ، کنایةً دحدیث څخه هم معلومیږی مثلاً په حدیث کی دجمعې په شپه کی دجماع غسل وغیره کولو څخه وروسته دجمعې دلمانځه کولو ترغیب ورکړل سویدی .

دپاره ددې چی دجمعې لمونځ ته په تلو راتلو کې چیری نظر پرېوزی نو چی په طبیعت کی څه قسم پراګندګی پیدا نسی ، او دنفس دخواهش څخه داطمینان کیدلو په سبب په لمانځه او خطبه کی دل جمعی حاصله سی . پرهر حال که چیری تقاضا ددې څخه هم زیاته وی نو په هفته کی دوه ځله دی وکړل سی، باقی په هره شپه کی بار بار جماع کول دصحت دپاره ډیر زیات مضر دی، خاص په دې

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

دور کی چی طاقتونه بالکل کمزوری سویدی او خوراکونه خـالص پاته نه دی، بار بار جماع کول دانسان ځوانی ډیر ژر ختموی، ولی چی په جماع کولو سره دمنی ډیر مقدار خـارجیږی ، اودمنـی پـه تیاریدلو کی دبنه خوراک ډیره حصه صرف کیږی، نو دا شان دبنه خوراک یو ډیر لوی مقدار په یوځل جماع کولو سره ختم سو، چی دهغې په وجه سره به پرصحت باندی ډیر ژر اثر پرېوزی ، او سړی هم دمختلفو بیماریو ښکار سی چی په هغو کی اهمه بیماری دسرعتِ انزال ده، او سړی چی کله دسرعتِ انزال په مرض کی مبتلا سی نو دجماع په لذت او لطف کی به کمی راسی، او دښځی تـسکین بـه نسی کولی، نوپه خپلو کی به نالګی شروع سی.

بل دانزال په کثرت سره مادۀ منویۀ کمزوری او نـری کیـږی چـی دهغې اثر به پر اولاد باندی هم پریوزی ، ځکـه چـی کمـزوری او ضعیف الخلقة به وی ، بل دبار بار جماع کولو دا نقـصان هـم دی چی دښځي به نفسانسی خواهش نه کیږی نو دابه پرخپل ځان باندی وبال ګنی ، او داهم دتعلقاتو دپاره نقصانی خبره ده ، او ددې سره سره لوی نقصان دا دی چی اګرچی په فطری طور سره حیا داره وی او دنفسانی خواهش دپوره کولو په معامله کی به لږه باندی قناعـت

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

کوونکی وی ، او یو ځل تسکین داره جماع کول دثابتی میاشتی
دپاره کافی کیدی سی، لیکن که چیری په زیات چیر چاړ سره را
پورته کړل سی او دهغې طبیعت دغه رنګه شهوانی سی ، او هر
وخت دهغې په دماغ کی دغه خیالات پخیدل شروع سی، نو ددې
.وروسته به دشهوت نشه پردې باندی سپره سی، او دابه ددی عادت
سی ، نتیجه به یې داسی چی لږ موده وروسته به ته عاجزه سی ، او
ستا مجبوریانی به ظاهره وی چی سترې یې آرام کول غواړی ، او
هغه به دی په بیدارولو باندی مجبوره کوی .
داصرف ستا په خپل انجام نظر نه کولو او دبی واکه کیدلو نتیجه ده
بیا ددې انجام دذلت او رسوایی او ډاکټرانو اوحکیمانو ته دچکر
لګولو څخه ما سوا هیڅ هم نه وی ، مګر مخ کی والا خبره بیا هم
پیدا کیدی نسی نو دتفریق (جلا والی) هم خطره ده ، او که چیری
په دې مابینځ کی یو خبیث په غلطه لاره بیوونکی ورته ملاؤ سو نو
پر دې لار باندی بنووئیدل څه لیری نه ده ، ددې دپاره په ډیر سوچ
او فکر سره ددې قیمت دولت او لذت څخه نفع اخیستل پکار دی
دپاره ددې چی صحت قوت او ځوانی بر قراره وی، او لطف دائمی
وی ، او اولاد هم تندرست او سالم پیدا سی .

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

جماع کم وخت کول پکار ده :

دجماع دپاره دورځی په نسبت دشپې وخت زیات ښه دی ، او داسلامی میاشتو په اعتبار سره دړومبۍ او ینځلسمی او آخری شپې څخه علاوه په باقی شپو کی دا فعل کول پکار دی ولی چی درواياتو څخه معلومیږی چی په دې درو شپو کی شیطانان زیات خپریږی، او دهفتې په اعتبار سره دجُمعې په شپه کی بعضی فقهاوو جماع مستحب لیکلی ده ، او په شپه کی هم دشروع حصې په نسبت دشپې آخری حصه زیاته مناسبه ده ، چی دشپې په ابتدائی حصو کی دی خوب وکړل سی، دپاره ددې چی دټولی ورځی دستومانی څخه ورته راحت او مکمل سکون حاصل سی، او یوه فائده یې دا هم ده چی دشپې لږ حصه به په ناپاکی (جنابت) کی تیره سی ، البته دشپې دومره آخره حصه دی هم نه وی چی بیا ورته ددوباره آرام وخت پاته نسی ، څه ساعت ددې څخه وروسته هم آرام کول پکار دی .

شریعتِ مطهره دخپل ښځی دپوره بدن څخه دهر قسم نفع اخیستلو اجازت ورکړیدی ، البته دلواطت یعنی په وروسته ځای کی صحبت کول دخپلی ښځی سره هم حرام دی . ځکه چی هغه بالکل دجماع محل اوځای نه دی ، نو صحبت صرف په مخکنی حصه کی جائز

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

دی (١)، او ددې مخکنی حصې دپاره چې کومی طریقه اختیار هم کړل سی په شریعت کی دهغې ممانعت نسته ، البته اشارةً دوې طریقې ښه او عمده معلومیږی :

١. اوله طریقه چې په هر جانداره کی فطری طریقه ده هغه دا چې سړی دی پورته وی اوښځه دی لاندی وی، په دې کی یوه فائده دا هم ده چې سړی ته به دحرکت کولو پوره موقع تر لاسه وی، چې ددې سره به لذت ورته زیات حاصلیږی ، دوهمه فائده یې دا ده چې پر ښځه باندی به لږ وزن راځی ، چې ددې په وجه سره به دهغې په لذت کی اضافه وسی ، او هغې ته به هم ژر فراغت وسی ، بله دا چې دا طریقه به داستقرارِ حمل دپاره هم مددګاره وی (٢)

---

(١). ولی چې یومردار ګنده اوپلیت ځای دی، بعضی خلک ددې خبیث فعل دلداره وی، داسی خلګو ته په بې عقلی کی ځر اوپه بې شرمی کی خنزیر عاجزه دی ، دا هغه مردار جُرم دی چې دلوط ﷺ قوم الله پاک ﷻ ددې په وجه سره دصفحهٔ هستی څخه نیست اونابود کی، پر هر حال دا دیو شریفه انسان کار نه دی . مترجم

(٢). خاص دصحبت په باره کی دیوه ډاکټر مختصر مګرجامع مضمون تر نظر تیر سو ، لهٰذا دا وړاندی کول مناسب معلومیږی :
په جماع کی دی ښځه نیغه (ستونی ستخ) پرېوزی او لاندی دی وی ، او خپلی پښې دی بې غزولی وی، اوسړی دی ددې دپاسه دارنګه پرېوزی چې دواړه خاص اندامونه یودبل مقابل سی، بیا سړی جماع =

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

اشارةً دا طریقه په قرآن کریم کې ذکر ده لکه چې ارشاد دی: فَلَمَّا تَغَشَّاهَا حَمَلَتْ حَمْلاً خَفِيْفًا ، یعنی کله چې سړی پر ښځه باندې را خپور سو هغې سپک غوندې حمل واخیستی .

ددې صورت دا دی چې ښځه نیغه پرېوزي او سړی پر دې سربیره اړولی پرېوزي ، چې دښځې دهر اندام په مقابل کې دسړي اندام راسي. ۲. دوهمه طریقه : چې دکومې متعلق په حدیث پاک کې ارشاد دی: اِذَا قَعَدَ بَيْنَ شُعَبِهَا الْاَرْبَعِ ثُمَّ جَهَدَهَا . یعنی کله چې

= کوي دقدرت دمنشاء مطابق حرکت کول شروع کوي ، نوپه دې فعل کې نور لذت تر لاسه کوي ، بیا هغه منزل ته راځي چې دسړي دخاص اندام څخه مني خارجه سي دښځې تر رحم پورې رسیږي ، ددې سره سم دښځې ټول بدن سست سي ، او دسړي دخاص اندام تولیدل شروع کیږي، که دښځې تر ملا لاندې سپك بالښت کښېښول سي نوپه لذت اومزه حاصل کیدو اوحمل دریدو دپاره فائده مند دی دا خبره هم یاد ساتل پکار دي چې ښځې ته (دطبیبانو په وینا) په هره میاشته کې یو یا دوه ځلې بعضو ته دحیض څخه مخ کې ، او بعضو ته دحیض څخه وروسته دشهوت یوخاص جوش (شوق) را پورته کیږي، په دې وخت کې هغه دصحبت دپاره بیتابه وي مګر دفطري حیا په سبب په ژبه سره دځه ویلو پرځای په اطوارو او انداز سره اظهار کوي، سړي ته پکار دی چې دداسې وخت دپېژندلو کوشش وکړي ، په دې وخت کې دی خواهش ضرور پوره کړي، ددې څخه محبت زیاتیږي او لطف هم ښه راځي . محشی

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

سړی دفرج دځلورو واړو طرفونو په مینځ کی کښېنی بیا په مشقت کی واچوی ښځه .

دشعب اربع څخه څه مراد دی ؟ په دې کی راجح قول دادی چی دښځی دوه لمونه (کوناټی) او دوه ورنونه مراد دی ، او ددې په مینځ کی کښېنستل به هغه وخت وی کله چی ښځه پرته وی او دهغې پښې پورته کړی او جماع وکړی . دا طریقه دحمل دریدلو دپاره هم فائده منده ده ، ځکه درحم تیلی (کڅوړه) دباندی طرف ته دذکر بالمقابل راځی .

تنبیه : ۱. که چیری واده دپېغلې ښځی سره وی نوپه اول ځل صحبت کولو کی دهغې دپردهٔ بکارت په چاودلو سره هغې ته تکلیف رسیږی ، په داسی وخت کی دنرمی معامله کول پکار ده ، حرکت کم کول پکار دی .

۲. که واده دپیغلی سره وی او پردهٔ بکارت معلومه نه وی نوکه دښځی اخلاق ښه وی اوپه بدی کی دمبتلا کېدو آثارنه وی نوصرف ددې پردې دنه موجود والی څخه دی پرهغې باندی بد گمانی نه کوی، ځکه چی فقهآوو لیکلی دی او اطبآء هم وایی چی بعضی وخت دټوپ وهلو څخه یا چیری دغورځیدلو څخه ، دغه ډول

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

دکثرتِ حیض ښځه ، او تر ډیر وخته پورې دواده نه کیدو ښځه هم پرده بکارت ختم کیږی .

دجنابت دغسل بیان :

سړی چې په شپه کې جماع کړی وی نو دسهار کیدو سره دسهار دلمانځه څخه مخکې غسل کول پکار دی، دی غسل ته غسلِ جنابت وایی .

دجنابت غسل په ډیر اهتمام سره کول پکار دی خاصکر ښځې او خاوند ته دخپلو جنسی اندامونو په ډول دپرېولو خیال ساتل پکار دی ، سړی دی خپل اندام په ښه ډول سره پرېولی خاص دسنت سوی ځای په پوست کې رطوبت جمع کیږی هغه دی صفا کړی ، ځکه دپوست دبیماریو دپیدا کیدو اندېښنه ده ، دغه رنګه ښځه دی دخپل پټ اندام صفائی وکړی ، دغسل څخه مخ کې متیازې کول پکار دی ، دپاره ددې که چیرې دمنی څه حصه حصاره سوی وی نو خاربه به سی دجنابت دغسل طریقه دا ده چې اول دبدن په کومه حصه باندې چې ناپاکی لګیدلی وی هغه دی ووینځی بیادی اودس وکړی، بیا دې پر ټول بدن باندې په ښه ډول اوبه اوبیوی ، په غسل کې درې فرضه دی : ۱. په خوله اوبه ګرځول . ۲. په پزه کې

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

اوبه اچول ۳. پر تول بدن اوبه بیول (۱) .

تنبیه : دجنابت دغسل کولو بغیر په کور کې پروت اوسیدل دبې برکتۍ اونحوست سبب دی، په دې غسل کې شرم او حیاء کول نه ده پکار ، درسول الله ﷺ ارشاد دی چې دجنابت په حالت کې پروت اوسیدلو سره درحمت فرشتې کور ته نه راځي .

مراد دا دی چې دسستۍ او ناراستۍ په وجه پروت اوسی چې دهغې په وجه سره ترې لمونځونه هم قضا سي ، هو! فقط دشپې په لږ حصه کې دجنابت په حالت کې بیده کیدل مراد نه دی .

تنبیه : یاد ساتل پکار دی چې څنګه په جماع کولو سره غسل فرض کیږی دغه ډول په احتلام (په خوب لیدلو سره دمنی انزال کیدل) وروینی ، په خوب کې دمنی په وتلو سره غسل فرض کیږی، دغه ډول که په بیداری کې دشهوت سره انزال وسی یا دښځې

---

(۱). پر تول بدن اوبه بیول چې دبدن یو وریښته ، او دوریښته مقدار په بدن کې یو ځای هم خشك نسی پاته، دغه ډول دنو (ناف) آخر ته اوبه رسول ، دږیرې لاندینې پوست ته اوبه رسول ، دسر دوریښتانو پوست ته ، او ګوتمۍ که تنګه وی ، دغوږو سوریانو ته چې بند سوی نه وی، دناسنت سوی دخاص اندام دننه پوست ته اوبه رسول فرض دی .
(ماخوذ ازعامة الکتب) . مترجم

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

دلاس وروړلو څخه یا په ښځکلولو کی شهوت څرګند سی او انـزال وسی نو هم غسل فرض کیږی ، ښځی ته ددې قسم شـکایت کـم کیږی ، دجماع په صورت کی چی دسړی دسپاری حصه دښځی په فرج کی داخله سی نو غسل به ورباندی فرض سی ، هو! که چیری یوه ښځه ډیره کمزوری وی او بغیر ددخول څخه دهغې انزال وسی نوپه دې باندی به هم غسل فرض کیږی .

دزنا بیان :

څرنګه چی اوس دنکاح فضائل او ددې آداب بیان سوه دغـه شـان دنکاح ضد یعنی دزنا متعلق څه خبری بیانوو دپاره ددې چـی ددې بد والی او عیبونه مخ ته راسی ، زنا دیوې اجنبی ښځی سره په غلطه طریقې سره خواهش پوره کول نهایتی قبیح، ناکـاره او بـدکار دی ددې شمیر په ګناهِ کبیره کې کیږی، په قرآن کریم او حدیثِ پـاک دواړو کی، ددې بد والی بیان کړل سویدی، په زناکولوسره انسان په دنیا کی هم ذلیل او خوار کیږی ، او په مختلفو وباګانو او آفتونو کی مبتلی .

که چیری اسلامی حکومت نافذ وی نو ناواده کړی ته سـل دُرې او واده کړی سنګسارول کیږی، اوهغه هم په مجمعِ عام کی (دخلګو

Downloa[redacted]aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

په مخ کی) ، دپاره ددې چی خلګ ورڅخه عبرت واخلی .
څرنګه چی زنا کول حرامه ده ، دغه ډول لواطت (یعنی دهلکانو یا ښځو سره بدفعلی کول) دا دزنا څخه هم زیات خراب کار اوګنده (مردار او حرام) عمل دی، ددې خراب کار په وجه سره دحضرت لوط علیه السلام پرقوم باندی هم عذاب راغلی چی دهغو تذکره په قرآن کریم کی بار بار په مختلف انداز سره سویده ، او ددې شرعی سزا دنورو امامانو په نزد خو دزنا سزا ده ، خو دحنفی عالمانو په نزد دمسلمانانو بادشاه ته اختیار دی ، که دغوره یا بل اوچت ځای څخه یې په را غورځولو سره هلاکوی یاورلره کمه بله سخته سزا ورکوی غرض داچی په دې بد (مردار او حرام) کار باندی په حدیث کی سخت لعنت وارد سویدی .

دولیمی بیان :

درخصتی څخه وروسته کله چی یوشپه په خلوت کی تیره سوه نو دولیمی دعوت کول سنت دی ، اوپه دې کی دخپل حیثیت مطابق خرڅ کول پکار دی، که خدای پاک جل جلاله دولت ورکړی وی نو دخپلوانو دوستانو او احبابو او صالحانو او عالمانو یو وخت دعوت دی وکړل سی ، اوکه مالی حالت یې کمزوری وی نوچی هرڅه

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

دال ډوډۍ میسّر وی په هغه کی دی څه خلک شریک کړل سی ،
لیکن په قرض اخیستلو سره ددعوت کولو ضرورت نسته ، رسول
الله ﷺ یوه ولیمه داسی کړیده چی دسترخوان یې وغوړوی او
صحابه کرامو ﷺ ته یې وفرمایل چی دچا سره څه خوراک موجود
وی هغه دې راوړی دهغه وروسته یې ټوله خوراک یو ځای کړ او
صحابه کرام ﷺ یې په طعام کی شریک کړل ، ددې څخه زیاته په
اسلام کی څه ساده‌گی کیدی سی، البته ددې خبری پوره لحاظ دی
وساتل سی چی صِرف مالدارو ته دې دعوت نه ورکوی بلکه
دغریبانو او صالحانو زیات حق دی .
داسی ډوډۍ ته شَرُّ الطَّعَامِ فرمایلی سوی دی په کومه کی چی صِرف
مالداران رابلل سوی وی او غریبانو ته دې په دې کی څه نه ورکول
کیږی ، لهٰذا په دعوت کی دی ټول شریک کړل سی .
یادونه : یوه خبره دا هم یاد ساتل پکار ده چی که چیری په څه وجه
سره دواده موقع نه وی، یابنځه وی خو دصحبت موقع او گنجائش
په هیڅ یوې وجهی سره نه وی نوپه داسی موقع کی دخپل عصمت
او پاکدامنی دحفاظت دپاره شریعتِ مطهره په کثرت سره روژې
نیول ښوولی دی ، په دې سره به یې نظر کښته وی او پاکدامنی به

Download from: www.aghalibrary.com
Scanned by CamScanner

ورته حاصله وی.

دخاوند او ښځی حقوق پر یوبل باندی :

دنکاح څخه وروسته دښځی او خاوند حقوق پریو بل باندی لازمیږی، ددې دپاره هریوه ته دخپلی ذمی دحق اداء کولو فکر کول پکار دی، په دې صورت کی به دحقوقو اداء والی کیږی اوپه تعلقاتو کی به مضبوطتیا پیدا سی :

۱. یو اهم حق کوم چی ددواړو سره تعلق لری هغه دا دی چی دیو اوبل دطبیعت او خواهش پوره لحاظ دی وساتل سی ، مثلاً بعضی طبیعتونه انتهآئی شهوتی وی ، ددې قسم طبیعت لرونکی ته بار بار ددې (شهوت) دپوره کولو تقاضا پیدا کیږی ، او بعضی طبیعتونه ډیر کمزوری شهوت والا وی دهغو دی طرفته میلان کم وی ، اوس که چیری ددواړو طبیعتونه برابر او یو رنګه وی نو بیا خو څه خبره نسته ، لیکن ډیر ځله داسی هم کیږی چی دیوه خواهش ډیر زیات وی او دبل خواهش ډیر کم وی ، که چیری دسړی ډیر خواهش کیږی نو هغه ته دخپل طبیعت کنترول کول پکار دی او دښځی دطبیعت په خیال ساتلو سره ورته کله کله قصد کول پکار دی ، اوکه چیری سړی دکمزوری طبیعت والا وی نو دښځی

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

دخواهش دتکمیل دپاره هغه ته مقویات استعمالول پکار دی، داسی دی نه وی چی سړی دخپل طبیعت په بنآء باندی په صحبت کی ډیر کمی وکړی او ښځه دده په انتظار کی اوسی، په دې کی هم ډیر نقصانات دی .

په مقویاتو کی دټولو څخه ښه شي عمده خوراک ، دوړو حیواناتو، مرغانو غوښه ، نیم پوخته هګۍ ، ماهی او مغزیات بادام ، جنغوزې وغیره دی، پرهرحال ددواړوپه اعتدال سره به ژوند خوشګوار وی.

۲. دحیض او نفاس (یعنی ناپاکۍ په حالت کی) دښځی سره صحبت کول حرام اوناجآئز دی، بلکه په داسی وختوکی دنامه څخه واخله تر زنګنو پوری ځای بالکل ښکاره کول نه دی پکـار ، ددې څخـه علاوه دباقی بدن څخه لطف اخیستل او یو ځای بیده کیـدل جـآئز دی، خوپه دې شرط چی په صحبت کی دواقع کیدلوخطره نه وی، دناپاکۍ په زمانه کی هم ښځی ته دخپلی مینی او محبت دکمـوالی احساس مه ورکوی، البته دجماع څخه پوره پوره ځان ساتی ، بې بې صرف دخواهش پوره کولو دپاره یا داولاد دحاصلولو دپاره نـه ده، بلکه یو لوی حکمت پکښی دزړه الفت اومحبت دی، ځی ټوله ستومانی ورسره لیری سی او زړه باغ باغ سی چی یو بل ځای بالکل

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

حاصلیدای نسی .

پر سړی باندی دښځی حقوق :

خاوند چی کله نکاح وکړی او خپله بی بی کورته راولی نو دهغې حفاظت او دهغې دحقوقو خیال ساتل ډیر ضروری دی، شریعت دذمه واری په طور باندی دښځی درې حقوق پر سړی باندی لازم کړیدی ، چی دهغو بیان دشرعی حقوقو تر عنوان لاندی کول کیږی .

شرعی حقوق :

۱. نان او نفقه یعنی دخوراک چیښاک خرڅ ۲. لباس یعنی دبی بی دجامو وغیره خرڅ ۳. مسکن یعنی داوسیدو مکان (ځای)، په اولو دوو حقونو کی خاوند لره دخپل حیثیت مطابق انتظام کول ضروری دی، ګواکی دښځی دخوراک او جامې پوره ذمه واری پر سړی باندی اچول سویده ، دی به په خپله هم خوری او په بی بی باندی به یې هم خوری په خپله به یې هم اغوندی اوبی بی ته به یې هم ور اغوندی، ښځی ته ددې (دوو شیانو) دپاره دګټی وټی کولو ضرورت نسته ، اونه ښځه دګټی وټی کولو دپاره پیدا کړل سویده، په دې دوارو حقوقو کی خاوندته دبی بی درزق رعایت کول پکار دی

Download from: www.aghalibrary.com
Scanned by CamScanner

په دې شرط چې دشريعت منافي (ضد) نه وي،

دريم شی مکان دی، ددې انتظام هم دخاوند په ذمه ضـروری دی، که چيری په کور کی ډير کسان اوسيدونکی وی او مور او پلار هم وی نو يو داسی کمره (خونه) ضرور پکار ده چې په هغه کـی دوی دواړه دتنهايي په وخت کی په بې تکلفۍ سره ملاويدی سی، چی په کور کی ډير کسان اوسيږی نو ښـځی تـه دنـامحرمو خپلوانـو پـه وړاندی تلل راتلل بد دی (يعنی ناجآئز دی) لږ تر لږه په هر يوه کور کی مردانه اوزنانه حصه جلا جلا ساتل پکاردی، دمسآئلو اوپه خپل مينځ کی دحقوقو دزيات تفصيل دپاره په اُردو کتـابو کـی بهـشتی زيور ، بهشتی ثمر، هداية النسآء ، تحفة الوالد او نور مطالعه کول پکار دی، ما ددې رسالې دمختصری ساتلو دپاره ضـروری خبـری بيان کړی او تفصلات مې پريښوول .

اخلاقی حقوق :

سړيو ته الله تعالی ډير داسی خصوصيات ورنصيب کړيدی کم چـی په ښځو کی عمومًا کم موندل کيږی، شجاعت او بهادری، عـزت او حميت، حلم او مروّت او دغسی حاکميت او آمديت، دفيصلې قوت، رعب او دبدبه داپه سړی کی دکمال په درجه کـی مونـدل

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

کیږی ، په دې وجه سره سړی لره یې پر ښـځه بانـدی قوامیـت او اختیار ورکړیدی ، او دا دخاوند فریضه ده چې دی دښځی داخلاقو نګرانی وکړی، که چیری ښځه دکور دنوکرانـو او اجنبـی خلګـو سره په نرمی اوخندا ټوقی اوخبری کوی نوهغه دی فوراً تنبیه کړی، او هغه دی ددې خبرو څخه منع کړی او په شروع کی ددې خبـرو بندول آسانه دی، ددې څخه چې هغه وخت خاموشی اختیار کـړل سی او بیا معامله مخ ته ولاړه سي، که چیری دښځی په دې حالـت کی په لیدلو سره پر سړی باندی هیڅ اثر نه وسی او دهغه پر تنـدی باندی ګونجی رانسی نو داسی سړی دیوث دی چې په حدیث کـی ملعون دی (یعنی لعنت پر سویدی) ښځه دی بالکل آزاده نه پریږدی چې دچا سره یې خوښوی : یې خوفه اوخطره ورسره خبری وکړی، چې دچاسره یې خوښه سی په خندا خبری وکړی، ښځه ډیره قمیتی جوهر دی ددې حفاظت دخاوند فریضه ده ، دغه ډول په کور کـی بی وجهی دخلګو تګ راتګ هم زیات ساتل نه دی پکار .

دسړی دپاره دښځی داصلاح طریقه

لیکن ښځی ته دتنبیه کولو او دهغې داصلاح دا مطلب نـه دی چې سړی کله وغواړی په لږه خبر باندی ورپـوری ومـښلی، قهرېـدل

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

دهمکول او وهل او تکول شروع کړی دا دشرافت او انسانیت خلاف دی، نه دی په معمولی خبرو باندی لکه چاته په کتلو باندی یا دچا په خندلو باندی ښځه مشتبه او مشکوکه وګرځول سی، بلکه په سنجیدګی سره دهغې په احوالو باندی نظر ساتل پکار دی،

دښځی څخه که چیری څه نازیبا خبره (یا حرکت) صادر سی چی په هغې تاته تکلیف ورسیږی نوپه معمولی بی رُخی اوپه تندی ګونجی راوړلو سره دی تنبیه کړل سی، او که چیری هغه په دې سره پوه نسی نو دیوې یا دوو شپو دپاره خپله بستره دهغې څخه جلا کول پکار دی، که چیری ددواړو په زړو کی محبت وی نو دومره هم کافی دی، ذقهریدلو رټلو او دښکنځلو هیڅ ضرورت نسته ، لیکن که چیری هغه اوس هم دخپلی خبری (یابد حرکت) پرېښولوته تیاره نسی نو دلږ وهلو اجازت یې سته ، لیکن دنوکرانو په شان دوهلو څخه یې بیاهم منع فرمایل سویده، په یوه حدیث شریف کی راځی، چی څنګه عجیبه غوندی خبره ده چی سړی دورځی خپله ښځه هی دغلام او مینځی غوندی وهی او بیا دشپې ورسره نژدیکت کوی .

باقی دلته ددې خبری هم خیال ساتل پکار دی چی دښځی دطرفه په څه کورنی خبره باندی ناراضګی یا ستا دطرفه دځه مطالبې په نه

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

پوره کولو باندی دهغې مروریدل طبعي شي بلکه دا دهغې دمحبوبانه فطرت خاصه ده (دا بد گنڼل نه دی پکار) .

تنبیه : سړی لره ددومړی خبری ضرور خیال ساتل پکار دی چې که چیری دښځی په څه خبره باندی غصه ورسی نو بې واکه کیږی دی نه ، بلکه خپل ځان په واک کی ساتل ډیر ضروری دی، رسول الله ﷺ فرمایلی دی چی په تاسو کی بهترین سړی هغه څوک دی چی دخپل کور والاوو سره ښه سلوک کوی زه دتاسو ټولو څخه زیات دخپل کور والاوو ښه سلوک کوونکی یم .

ځکه چی دهغې په بد خلقۍ او تیز مزاجی صبر کول ډیر ضروری دی، که چیری زیات غصه سی نو دهغه ځای څخه دی جلا (لیری) سی ، تعوذ (اعوذ بالله) دی ووایی، اُوبه دی وچښی، په کوم حال کی چی وی هغه دی بدل کړی ، یاد دې لری چی پهلوانان را غورزول بهادری او کمال نه دی بکله بهادری دا ده چی دغصې په وخت کی خپل ځان په واک کی وساتی او طبیعت او ژبه په کنټرول کی وی، کنې خدای ﷻ مکره که په غصه کی څه خبره دخُلې څخه ووزی (مثلاً طلاق یې ورکړو) نو ټول ژوند به یې بدل سی، او بیا به ته هم افسوس کوی ، دغصې په کیفیت کی څه مهم کار کول

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

دعقلمندی او شجاعت څخه خلاف دی، ددې دپاره چې کله غصه ولاړه سی نو ترهغې وروسته په سوچ او فکر سره او دمخلصو دوستانو او خپلوانو په مشوره کولو سره دی څه اقدام کوی .

ددې څخه علاوه څه خبری نوری هم داسی سته چې دهغو اختیارول دسړی دپاره دښځی دحق په تکمیل کی فآئده مند دی :

۱. ښځه دی دبې پردګۍ څخه حتی الامکان لیری ساتی او دنا محرمه اجنبی سړو سره دربط اوضبط اوتګ راتګ څخه منع کړی.

۲. ښځی ته دخاوند په مخ کی همیشه په زیب اوزینت سره اوسیدل پکار دی، دپاره ددې چې دهغه نظر پربل چا باندی پرېنوزی ، او ددې طرفته یې په زړه کی څه خیرن والی پیدا نسی . ددې خبری حکم په شریعت کی هم ورکړل سویدی بالخصوص چې کله خاوند دسفر څخه راسی نو ښځه دی زیب او زینت اختیار کړی ، حضور اکرم ﷺ چې به کله دسفر څخه تشریف راوړی نو دصحابه کرامو رضی الله عنهم سره به یې دمدینې څخه دباندی قیام کوی دپاره ددې چې په مدینه کی ښځی ته اطلاع ورسیږی ، او هغوی صفا سُتره سی .

۳. دښځی په خاطر خاوند ته هم په صفا سُتره او ښو جامو کی اوسیدل پکار دی ، دپاره ددې چې دهغې میلان هم دخاوند وطرف

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

ته باقی وی .

۴. که چیری بی بی داعلی جامو او کپړو او زیوراتو ډیره زیاته شوقمنده وی نوپه ډیر حکمت سره دی دزاهدانو واقعات او دالله تعالی دنیکو بندګیانو ښځو قصې او ددنیا دناپائیداری او دآخرت دفکر وغیره خبری دی دهغې په مخ کی پیش کړل سی، دپاره ددې چی دبې فائدې شیانو څخه او دضرورت څخه دزیات سامانه څخه یې رغبت کم سی، که چیری دغه رنګه دهغې رغبت کم نکړل سو نو دهغې دا هوس ټول کور بربادولی سی .

۵. دښځی مخی ته که دجامو اوکپړو وغیره وو څخه څه شی پردی په نظر درسی نو دهغه پوره تحقیق وکړی چی دکومه راغلی دی ؟ او ولی ؟ کنی دورانیدلو لاری په دغه رنګه شروع کیږی .

٦. دکاروبار کوونکو خلګو ته پکار دی چی ټول وخت دی خپل کار وبار ته نه وقف کوی بلکه څه وخت دخپلی بی بی سره دناستی ولاړی او خندلو ، خبرو دپاره هم ایستل پکار دی .

۷. که چیری بی بی سلیقه منده او نیکه وی نو کله نا کله په یوې جملې یا نیمی سره دهغې تعریف هم پکار دی. دپاره ددې چی هغې ته خوشحالي حاصله سی .

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

۸. دبی بی درمز اواشارو پیژندلو هم پوره کوشش کول پکار دی هغه ډیری خبری په ژبه سره نه وایی، البته په اشارو کی او دمخ په ناز او انداز کی یې وایی.

۹. بی بی ته دخپل اولاد په مخ کی بد رد ویل نه دی پکار، کنې دکور لطف به ختم سی، او اولاد به دخپلی مور سره بې باکه سی.

۱۰. دبی بی او بال بچ سره په انتهایی محبت او الفت سره اوسیدل زده کړی، دځیروونکی زمری او پړانګ په شان اوسیدلو عادت مه جوړوئ، او مه هروخت حاکمانه شکل چلوی.

۱۱. دخپلی بی بی په وړاندی دبلی پردې ښځی تعریف مه کوی، خصوصاً دچا دحُسن او دجمال (تعریف کولو) سره به دهغې زړه مات سی اوته به دهغې په نظر کی مشکوک جوړ سی.

۱۲. په خانه داری امورو یعنی دکور په کار او روزګار کی دهغې رایی ته اهمیت ورکوه، ځکه چی په دې معامله کی اکثره دهغې رایه صحیح وی.

۱۳. دبی بی سره په څه خبره حجت بازی پکارنه ده، چی دا دهغې سره مناسب نه ده، هو دهغې دجذباتو په لحاظ ساتلو سره دی ورسره سلوک وکړل سی، همدا خبره دهغې سره مناسبه ده.

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

۱۴. که چیری ښځه تعلیم یافته وی نوهغې ته ښه اخلاقی او مذهبی کتابونه دمطالعې دپاره ورکوه ، ناولونو، افسانو او خرافاتو ته درڅخه لاس یونه سی .

۱۵. کله نا کله که په کور کی څه ګرېړ راسی نو دهغې صفایی په کور کی دننه کوه ، بهر يې په نورو خلګو کی مه خپروه .

۱۶. دبد اخلاقو ښځو سره يې هرګز ناستی ولاړی ته مه پرېږده ، کنې دا به هم درله برباده کړی (اوتا به هم برباد کړی) .

۱۷. که چیری په کور کی دمور سره یا دخوندو سره دبی بی څه ګرېړ راسی نو په ډیره ښه طریقه سره ددواړو دحقوقو خیال ساتلو سره خبره هواره وه (یعنی ختمه وه) .

۱۸. دکور په معاملاتو کی نه ډیر زیات سخت او نه ډیر زیات نرم کیدل پکار دی .

۱۹. خدای مکړه که په یوه بد زبانه او بد اخلاقه ښځه باندی واوړیدی او داصلاح يې هیڅ امید نه وی ، نو په داسی مجبوری کی دهغې په جلا کولو کی خیر دی، څو داخبره په ذهن کی کښېنول پکار دی چی په حدیثِ پاک کی صفا ارشاد دی چی ښځه دچپه اړخ دپاسنی پوښتی څخه پیدا سویده او هغه دټولو څخه زیاته

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

کړه پوښتنې ده ، لهٰذا سره دکوږوالی دی دهغې ښځه فائده اخلی، کنې که بالکل بې سیده کوی نو ماته به بې کړی ، ددې دپاره سړی لره حتی الامکان دبرداشت څخه کار اخیستل پکار دی، څومره چې کیدی سی دطلاقه څخه ځان ساتل پکار دی ، شریعت طلاق نه دی خوښ کړی ، ابغض المباحات بې ورته فرمایلی دی، یعنی په مباحو، جائزو کارو کی ډیر بدکار دی، په دې باندی اقدام په ډیر سوچ او فکر سره او دخپلو مخصوصو تعلقدارو سره دمشورې څخه وروسته کول پکار دی، درې طلاقه ورکول او هغه هم په یوه ځل ډیر بد دی کیدی سی چې بیا پر پښېمانه وی.

۲. که چیری ښځه بیماره وی یابې په حس کی ګړبړ وی نو ژر دهغې دعلاج وطرفته توجه کول پکار دی.

پر ښځه باندی دخاوند حقوق:

څنګه چې دسړی په ذمه دښځی ډیر شرعي او اخلاقی حقوق دی دغه ډول دښځی پر ذمه هم دخاوند ډیر حقوق دی چې دهغو پرځای راوړل ددې ذمه واری ده (مثلاً):

۱. دښځی په ذمه دخاوند تر ټولو لوی حق دادی چې کله دی خپل ځان وخاوند ته حواله کړی دی نو همیشه دی دهغه حفاظت کوی،

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

اوپه دې سلسله کی دی دهیڅ خیانت ارتکاب نه کوی ، خواه که

یې خاوند حاضر وی او که غآئب وی یعنی چیری په سفر باندی

تللی وی، داجنبی سړی سره تعلق قآئمول داعلٰی درجې خیانت او

بې لوظی ده .

۲. ظاهره ده چی کوم سړی دښځی سره نکاح کړیده دهغه یو

مقصد دادی چی دغلط ځای څخه نفسانی خواهش پرېښوول او په

جائز او حلال ځای کی پوره کول دی، ددې دپاره چی کله خاوند

ته ددې خبری تقاضا وی نو هغه ته دی ددې موقع ورکړل سی، او

په دې سلسله کی بې وجهی بهانه جوړول نه ده پکار، درسول الله

ﷺ ارشاد دی چی که چیری خاوند تا دخپل ضرورت پوره کولو

دپاره را وغواړی اوته ډوډۍ او طبخی ته ناسته یې نو بیا هم ته خپل

کار پرېږده او دهغه تقاضا پوره کړه ، دا خبره دی هم په خیال کی

وی چی که چیری خواهش پیدا سی نو ډورځی هم صحبت جائز

دی، هیڅ حرج پکښې نسته ، په خپله دحضور اکرم ﷺ او بعضو

صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه بعضی وخت په ورځ کی هم جماع کول

ثابت دی.

۳. دخاوند چی مال او سامان وی دهغه حفاظت دی کوی هغه دی

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

دخاوند دمرضی (خوښی) څخه خلاف اوپه غلط ځای باندی نه خرڅ کوی ، دغه ډول دضرورت په کارونو کی دی هم فضول خرچی نه کوی ، بلکه کفایت شعاری دی خپل شعار جوړ کړی .

۴. ښځی لره پکار ده چی دکور کار روزګار دی په ښه طریقه سره زده کړی او دخاوند دمزاج موافق دی دخوراک ، چیښاک هستوګنی او اغوستلو غوړولو انتظام وکړی .

۵. ښځی ته دخاوند په خبرو باندی او دهغه په کار باندی بار بار مروریدل او دخپلی څه خبری نه پوره کیدلو باندی ناراضه کیدل څه ښه خبره نه ده ، په دې سره په محبت کی کمی راځی، او خاوند یو بوج محسوسوی ، ښځی ته دداسی بې ډبه (بدو) عادتو څخه ډیر ځان ساتل پکار دی .

٦. ښځی ته په خاوند یا دهغه په څه خبره باندی غصه کیدل او بد کلامی کول، بد رد ویل ، ښکنځل کول، دانتهآء درجې بی حیایی او بی شرمی ده ، که چیری خاوند دخپل شرافت یا څه مجبوری په وجه څه نه وایی نو دهغه مطلب دا نه دی چی ته څه غواړی هغه به کوی، که چیری تا داسی وکړه نو دخاوند په زړه کی به ستا وقعت او محبت ختم سی، او عجیبه نه ده چی څه ورځی وروسته (که دغه

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

حال بر قراره وو) وجدا والی (طلاق) ته نوبت ورسیږی او بیا بـه ستا اوښکی اوچوونکی هیڅوک نه وی .

۷. ښځی ته دخاوند دمور او پلار او وروڼو خوندو په معامله کی دډیر روا داری او خوش اخلاقی رویه ساتل پکار ده ، اګر که دخُسر ګنی دخلګو څخه ورته څه تکلیف ورسیږی هم ، هروخت دخاوند په مخ کی دخُسر ګنی دخلګو شکوه شکایت اوپه معمولی خبره باندی مرورتیا به دښځی محبت کم کړی او داسی خو خامخا کیږی چی کله په یوه کور کی یوه دوې ښځی یا دوه څلور ماشومان وی نو هره خبره یې دخپل طبیعت موافقه نه وی، څه نا څه دطبیعت خلاف خبره خو به ورته را پیښیږی، ددې دپاره دخُسر ګنی دخلګو دلویو او وړو سره دی ښه سلوک ساتی، په دې سره به محبت زیاتیږی او دژوند مزه به دوچنده سی ، ښځی ته پکار ده چی دخپل قدرتی حسن او جمال او دزړه را کښونکی خبرو دی پوره حفاظت کوی ، دضآئع کیدو څخه دی یې لیری ساتی دپاره ددې چی دخاوند نظر ددې څخه وانه وړی اوپه بل ځای کی ښخ نسی .

دحمل ابتدآء او دهغې متعلق یو څو خبری :

دواده څه موده تیریدلو وروسته په عام طور سره ددواړو دا خواهش

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

وی چی الله تعالی راته اولاد راکړی، نو داسبابوپه درجه کی ددوارو ملاویدلو (یوځای لیدلو) سره اولاد کیدل هم شروع سی، لیکن بعضی وخت الله تعالی ژر اولاد نه ورکوی چی په هغه کی داسبابو باوجود دالله تعالی مشیت او فیصلې ته لوی دخل وی ددې دپاره په دې باندی مایوسه کیدل او نا امیده کیدل نه دی پکار ، دزړه بدولو او خفګان هیڅ ضرورت نسته ، نه خاوند ته دښځی ښځه ناراضه کیدل پکار دی، بلکه دخدای پاک څخه دامید لرلو سره دعاء جاری ساتل پکار ده ، او که ضرورت وی نو په طبی طور باندی علاج کول پکار دی ممکنه ده چی په دوی دوارو کی دیوه صحت خراب وی یا دقوت او طاقت کمی وی ، کله چی صحیح علاج وسی نو امید دی چی ژر یا پس به بې اولاد ضرور وسی ، اوپه دې تاخیر کی به هم دالله تعالی یو مصلحت وی، که چیری کافی موده تیره سی او دطبی تحقیقاتو څخه وروسته دښځی دداسی کمزوری یا بیماری پته ولګیږی کومه چی داولاد کیدلو مانع وی ، او خاوند داولاد دپاره بل واده کول غواړی (۱) نو شرعًا ددې اجازت سته

---

(۱). خاوند ته ددوهمی نکاح حق هروخت حاصل دی لیکن داولاد دپاره دوهم واده قید ېی ددې دپاره ولګوی چی په عام طور سره خلګ داولاد دپاره دوهمه نکاح کوی.

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

لیکن په دوارو پیمانو کی عدل او انصاف قائمول ډیر ضروری دی، او که چیری دحقوقو په ادآء کولو کی لږ دلته هلته طرفداری او میلان پیدا سی نو ددې انجام به ډیر بد وی، په حدیثِ پاک کی فرمایل سویدی چی دچا دوې ښځی وی او دی په هغو کی دیوې طرفته مآئل سو (او دهغې خیال یې زیات ساتی) نو دقیامت په ورځ به په داسی حال کی راسی چی دهغه بدن به را کوږ سوی وی ، خلګ به دهغه دبدن په کوږ والی سره پوه سی چی دا مجرم دی او ده دښځو په مینځ کی انصاف نه دی کړی، ددې دپاره که ډیری ښځی یې وی نو دټولو یو قسم خیال ساتل ضروری دی، اوس چی کله ورته الله تعالی اولاد نصیب کړی نو دهغې اول منزل دحمل څخه شروع کیږی ، دحمل کیدل دمختلفو علاماتو څخه ظاهریږی چی په هغې کی اهم علامت دماهواری (میاشتنی) وینی حیض بندیدل دی، او زیاتره ښځو ته دزړه خرابیدلو او لتولو وغیره شکایت شروع کیږی، په داسی موقع باندی ښځی ته دخپل صحت پوره خیال ساتل پکار دی، اوپه خاص طور سره دطاقت او دمختلف قسمه مرضو څخه دحفاظت دپاره دیو حکیم په مشوره سره معجون او مقویات وغیره استعمالول پکار دی، ښځوته په دې

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

ورځو کی دقی او زړه خرابیدلو اوزړه بیریدلو شکایت عمومًا کیږی په دې وجه په موقع او بې موقع دتروو او نمکینو شیانو خوړلو ته شوق کیږی، دبعضو ښځو خاورو خوړلو ته شوق کیږی ، په داسی موقع ددې خیال ساتل پکار دی چی کم شیان دصحت دپاره فائده مند وی دهغه خوړل پکار دی، او صحت ته نقصان ورکوونکو او بدو شیانو څخه پرهیز کول پکار دی، دغه رنګه دحمل په زمانه کی دتوپ وهلو ، منډی وهلو او دډیر زیات درونـد وزن پورتـه کولـو څخه ځان ساتل پکار دی، ورنه خطره ده چی دحمـل دغورزیـدلو سره به وینه شروع سی، دغه شان دحمل په ورځو کی دقـبض والا شیان مه استعمالوی اوچی کله دقبض شکایت پیدا سی نو دهغه فورًا علاج کوی، دغه رنګه ددست راوستونکو شیانو څخه ځان ساتی ، ښځی لره دا هم پکار ده چی په دغـه ورځـو کـی هـشاشه بـشاشه خوشحاله اوسی، په دغه خفګان او فکر کی دی بالکـل نـه مبـتلا کیږی ، ددې څخه علاوه دبدن او جامو دصفایی سـره دی زړه او دماغ هم (دګنده او بدو خیالاتو) څخه پاک او صاف ساتی، ځکـه چی ددې اثر په قدرتی طور سره په نس کی پردنـنـه ماشـوم بانـدی پربوزی ، ددې دپاره په دې ورځو کی مور تـه انتهـآیی پـاکیزه او

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

مهذبه اوسيدل پکار دی، او دحمل په ورځو کی دجماع صحبت کولو څخه حتی الامکان ځان ساتل پکار دی، خصوصاً په اولو څلورو ۴ میاشتو کی او داومی ۷ میاشتې څخه وروسته دپاره ددې چی حمل ته څه نقصان پیښ نسی (البته په شرعی طور سره په جائز والی کی څه خبره نسته) ښځی ته چونکه دحمل په ورځو کی کافی تکلیفونه وی بیا دا موده هم کمه نه وی، بلکه تقریبًا تر نو ۹ میاشتی پوری وی بیا دټولو څخه زیات تکلیف دماشوم دپیدا کیدلو په وخت کی وی څنگه چی په قرآن کریم دمور داهمیت او دهغې دعظمت ښوولو دپاره ددې تکلیفونه په خاص طور سره ذکر سویدی ، لکه چی فرمایي: حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلٰى وَهْنٍ ، دده مور دی په خپله ګیډه کی ساتلی وو، په کمزوری باندی کمزوری برداشت کولو سره . دغه رنګه بل ځای ارشاد دی: حَمَلَتْهُ أُمُّهُ كُرْهًا وَّوَضَعَتْهُ كُرْهًا ، دده مور دی په ګیډه کی وساتلی په تکلیف سره ، او وې زيږوی په تکلیف سره .

او چونکه تکلیف دیو ماشوم په وجه سره دی، اودغه ماشوم به دخدای ﷻ مومن بنده وی، درسول الله ﷺ په امت کی داضافی سبب ګرځی، دیندار او حق ته رابلونکی به وی، ددې دپاره په

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

حدیث پاک کی یې ثواب هم بیان فرمائیلی دی، لکه چی رسول الله ﷺ فرمائی چی ښځه دحمل ځخه واخله تر شیدو پرېکولو پوری دهغه غازی په شان ده څوک چی دسرحدونو نگرانی کوی او دداسی غازی لوی ثواب دی، دغه رنگه په حدیث پاک کی دی چی که چیری ښځه دزیږدنی په درد کی وفات سی نو شهیده به سی ددې دپاره ښځی لره دحمل او لنگون تکلیفونه په خندا او خوشحالی برداشت کول پکار دی، دا صرف دانسانی خواهش تکمیل نه دی بلکه په دې باندی به وه دې ته لوی ثواب تر لاسه کیږی ، هوبعضی وخت اولادونه ډیر سی او اوس لا اول ماشوم شیدی خوری یا دبی بی صحت کمزوری دی او تقاضا داده چی بل ماشوم ونسی بلکه څه تاخیر پکښی وسی، نو ددې دپاره شریعت څه صورتونه جائز لرلی دی، په کومو کی چی نه سړی ته نقصان وی اونه ښځی ته ، په دې کی یو صورت (او طریقه) عزل دی یعنی دبی بی سره دجماع کولو په وخت کی چی کله دانزال وخت راسی نو دهغې ځخه دی جلا سی دپاره ددې چی منی دباندی خارجه کړی ، همدغه شان یو حکیم صاحب دا طریقه لیکلی ده چی ښځه دصحبت ځخه وروسته فوراً ودریږی او مخ په شا روانه سی نو په

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

دې سره حمل قرار نه نیسی ، ګواکی شریعت دداسی طریقو اختیار کولو اجازت ورکړیدی ، په کومو کی چی په وقتی طور سره حمل قرار ونه ونیسی ([۱]) او سړی او ښځی دواړو ته پکښی نقصان نه وی، نن صبا چی کومی دنس بندی وغیره سلسله شروع سویدی هغه یا خو دهمیشه دپاره داولاد دسلسلې دختمیدلو ذریعه وی ([۲]) (کوم چی دالله تعالی ورکړی دیو قوت بالکل ضائع کول دی) یا بیا داسی صورتونه دی په کومو سره چی اګر چی که دهمیشه دپاره خو سلسله نه بندیږی لیکن ښځی یا خاوند ته سخت نقصان رسیږی او صحت ورسره بربادیږی چی دڅغې مشاهده ورځ تر ورځی کیږی ، مثلاً دحمل بندوونکی زهرجنی ګولی استعمالول یا سړی لره نروده

([۱]). په دې سلسله کی جدید آلات هم شامل دی، لیکن دګوګ ددوا استعمال سره نقصان تړلی وی . مترجِم

([۲]). نن صبا دخاندانی منصوبه بندی تحریك لـه خـوا داولاد نـه راوړلـو یا یـو او دوو راوړلـو ، دعـزل او نـس بـندی (هغـه کـه عارضـی وی یـا دائمی) کولو تحریك په مسلمانانو کی په ډیر زور او شور سره شروع دی، په کروړو روپۍ پردې تحریك خرڅیږی ، او دا عام اعلان کوی چی که څوك نس بندی کوی هغه ته دومره انعام ورکوو، یا یوه جوړه صرف یو یا صرف دوه ماشومان راوړی هغه ته دمیاشتی دومره روپۍ ورکوی ، ددې تحریك لوی مقصد دا دی چی دمسلمانانو آبادی کموی . مترجم عفی عنه

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

وغیره استعمالول ، کومو سړو یا ښځو چې دا قسمه طریقه اختیار کړیده هغوی دخپل صحت څخه لاس مینځلی دی .

دولادت بیان :

کله چې دماشوم دپیدا کیدلو وخت را نژدې سی نو مناسب دادی چې کورته دی ښه ماهره دایی را وبلل سی دپاره ددې چې دپیدائش دوخت او دنورو شیانو صحیح اندازه ولګول سی، که ددې سره طبی او ډاکټری مشورې او علاج وغیره هم شامل سی نو ښه خبره ده ، نن صبا دا رواج جوړ سویدی چې دولادت په وخت کی ښځه هسپتالوته حواله کوی، چونکه هلته غیرِ مسلمه دایانی وی او بی پردګی هم زیاته وی او ټول ماحول غیرِ اسلامی وی په دې وجه دکور پاک ماحول پرېښوول او هلته تلل ښه خبره نه ده ، هو! که چیری مجبوری ، ښځی ته سخت تکلیف یا بیماری وی یا پروخت دایی پیدا نسی نو بیا هسپتال ته دتللو ګنجآئش سته ، اوس دولادت څخه وروسته دیو څو خبرو نشاندهی کوم :

۱. دماشوم دپیدا کیدلو وروسته دی هغه پاک صاف کړی او غسل وغیره دی ورکړی او په رسته غوږ کی دی اذان او په چپه غوږ کی دی اقامت ور وکړی .

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

۲. که یو بزرګ یا نیک سړی وی نوپه هغه دی تحنیک وکړی یعنی په هغه دی کهجوره (وچه خُرما) وچیچی ار نرمه دی کړی او دماشوم په تالو کی دی وروهی دپاره ددې چی تر ټولو څخه مخکی دنیک سړی او دکهجوری خوړوالی ورته ورسیږی چی دبرکت شی دی .

دعقیقې بیان :

۳. په اومه ۷ ورځ دماشوم عقیقه کول سنت دی، که په اومه ۷ ورځ ونسی، نوبیا چی کله موقع ترلاسه سی نو دولادت دورځی څخه په ورپسی ورځ باندی عقیقه کول پکار ده ، مثلاً که دسه شنبې په ورځ باندی پیدا سوی وی نو دچار شنبې په ورځ دی عقیقه وکړی، عقیقه دهلک دطرفه دوه پسونه او دجینی دطرفه یو پسه دی، که دهلک دطرفه یو حلال کړی نو هم کافی دی،

۴. دعقیقې په ورځ دماشوم دسر وریښتان خریل او دهغو دوزن په مقدار سپین زر خیرات کول مستحب دی، په حدیث کی ددې حکم هم راغلی دی، دانسانی بدن څخه جلا کړل سوی نوکان وغیره په یو پاک ځای کی ښخول پکار دی، دلته هلته غورځول یې ډیر بد دی په دې کی دبیماریو او آفتو خطره ده .

Download from: www.aghalibrary.com
Scanned by CamScanner

۵. چې ماشوم په کوچنیوالی کې سنت سی نو بهتره ده ، دزیات عمر کیدلو انتظار دی نه کوی .

۶. ماشوم چې په زانګو کې بیده کوی ، الله هو ورته ویل ، او فائده مند نظمونه وغیره ورته اوروول هم ښه دی .

۷. ماشوم لره دې ښه نوم کښېښول، عبد الله ، عبد الرحمن او دحضراتو انبیاوو علیهم السلام او دصحابه کرامو رضي الله عنهم اوصحابیاتو رضي الله عنهن په نومونو باندی نوم اېښول زیات ښه دی، دقیامت په ورځ به هر څوک دمحشر په میدان کې په نومونو سره رابلل کیږی ، په هغه وخت کې به په خرابو نومانو سره پښیمانتیا وی .

داولاد پر وفات باندی صبر :

بغضی وخت خدای پاک سړی ته اولاد ورکړی او بیا یې تری واخلی دا یقیناً ډیره دصدمې خبره ده خوپه دغه موقع باندی هم دصبرضبوورت دی، ډیرپه حوصله دی اوسی دسترګو څخه اوښکی بهیدل اوپه زړه کې غم راتلل خو طبعی خبره ده خوپه ژبی سره دی هرګزڅه خبره دبی ادبی نه کوی، نه دی په زړه کې دغه ډول څه بد خیال راولی بلکه ځان دی کلک کړی اوصبر دی وکړی، دآخرت اجر او ثواب دی پیش نظر ولری، په حدیثِ پاک کې دنابالغه

Download from: www.aghalibrary.com
Scanned by CamScanner

ماشومانو پرمرګ باندی دصبر کوونکی ښځی دپاره دجنت خوشخبری او بشارت راغلی دی، ددوو ماشومانو پر مرګ دصبر کوونکی ښځی په باره کی پوښتنه وکړل سوه نو دهغې دپاره هم دجنت وعده وفرمایل سوه، او دیوه ماشوم پر مرګ باندی دصبر کوونکی ښځی دپاره هم په حدیث پاک کی دجنت وعده موجوده ده نو په داسی موقع داولاد په محبت کی په بی صبری کولو سره دی جنت دلاسه نه ورکوی، بلکه په صبر اوپه ځان کلکولو سره دی درسول الله ﷺ دبشارتونو څخه فآئده پورته کړی.

درضاعت متعلق یو څو خبری:

۱. دماشوم دپاره موافق شیدی صرف دخپلی موردی ددی دپاره دټولو څخه بهتره داده چی خپله مور دی ورته شیدی ورکړی لیکن که خدای مه کړه څه مجبوری وی یادمور شیدی خرابی وی بل څوک شیدی ورکونکی دی ورلره مقرره کړه سی.

۲. شیدی ورکونکی ښځه دی هم دماشوم دمور په شان خپل ذهن او زړه دبدو خیالاتو اوخرافاتو څخه لیری ساتی ځکه چی دشیدو ورکولو په زمانه کی هم دشیدو ورکونکی دطبعیت اودهغه داخلاقو اثر دماشوم پر زړه اودماغ باندی پریوزی.

Download from: www.aghalibrary.com
Scanned by CamScanner

۳. شیدی ورکونکی ته دنخپل صحت پوره خیال ساتل پکاردی اوکه سهولت اوګنجائش وی نوبنه خوراکه دی استعمالوی دپاره ددی چی دماشوم پر قواء اوبدن باندی بنه اثر پریوزی.

کله چی ماشوم په بنه اوبد پوه سی نواول ورته دخدای پاک دنوم او کلمه طیبه دزده کولو کوشش پکار دی چی کله دپوهی خاوند سی نو اول دی ورته په مکتب پاکورکی ددینیاتو تعلیم ورکول سی، دهغه په مخ کی څه نازیبا حرکت هیڅکله نه دی کول پکار، اوکه څه غلطه خبره (یاحرکت) دهغه څخه صادر سی نودهغه څخه دمنع کولو کوشش دی وسی، والدین دی دهغه دفلاح اواصلاح دعاوی غواړی، غرض داچی دهغه دتربیت اوتعلیم دی پوره خیال وساتل سی دغفلت څخه کار هیڅکله اخیستل نه دی پکار. دمور غیږ دماشوم دټولو څخه اولنی مدرسه ده. ددی زیات تفصیل به زما په رساله (تحفه الوالد) کی ترلاسه سی.

داهل اوعیال دتعلیم اوتربیت آسانه طریقه نن سبا داده چی په کور کی دریډیو اوټیلی ویژن پرځای ددینی کتابو تعلیم په پایندی سره کول پکاردی. کله دی په خپلو کی دمسائلو تذکره وی، کله دی دمختلفو اوقاتو اوحالاتو دعا ګانی زده سی، که څه وخت په

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

پابندی سره دتسبیحاتو اوتلاوت مشغله وی نو کوربه یوقسم مدرسه اوخانقاه جوړه سی اودکور خلګ به ان شاء الله په صحیح رخ باندی روان سی .

داولاد پر ذمه دمور او پلار حقوق :

کله چی اولاد صحیح فکر داره سی نو دهغو په ذهن کی دا خبره په ښه شان کښېنول پکار دی چی دهغو پرذمه دمور اوپلار ډیر حقوق دی، هغوپه کوچنیوالی کی (داماشوم) اولادپه ډیر مشقت اوتکلیف برداشت کولو سره پاللی دی، اوبیا مور ضعیف الخلقة (پیدایشتی کمزوری) هم ده، اودماشوم دټولو څخه زیات تکلیف دا برداشت کوی (چی دهغه ذکر قران هم کوی) ددې دپاره دهغه دحقوقو اهمیت اوعظمت نورهم زیات دی، په دی وجه داولاد پرذمه دمور او پلار تابعداری او دهغو فرمان برداری ضروری ده، دمور او پلار تابعداری او دهغو فرمان برداری ضروری ده، دمور او پلار نافرمانی دټولو څخه لویه ګناه شمار سویده، اوپه یوه حدیث کی دکفر او د شرک څخه وروسته دټولو څخه لویه ګناه داښوول سویده، ددی زیات تفصیل به زماپه رساله (تحفة الوالد) کی ترلاسه سی اوپه هغه کی دمور اوپلار داطاعت اوفرمان برداری ډیر واقعات هم لیکل

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

سوی دی چی دمور اوپلار په خدمت اوفرمان برداری سره دهغو په رزق اوکار وبار کی برکت پیداسو اوپه جنت کی دداخلیدو بشارت ملاو سو او دهغوپه نافرمانی باندی په دنیاکی خنکه محرومی او ناکامی ملاو سوه اوپه آخرت کی به درباندی ځنګه وبال راځی په دی وخت یوه دوې واقعی مختصرًا په دی موقع باندی بیانوم:

دبنی اسرآئیلو ددریو سړو واقعه :

په بنی اسرائیلوکی دری سړی چیری تلل په لاره کی باران ورباندی شروع سو، دری سره دباران ځخه دځان ساتلو دپاره دغره په یو غار کی ننوتل، اتفاقًا پر هغه غاره باندی دلوړی ځخه یوه ډبره راوغرځیده (اودغاری په خوله کی ودریده). چی په هغه سره دغاری خوله بالکل بنده سوه اواوس دوتلو هیڅ لاره نه وه اویقین یې راغلی چی اوس موهلاکت یقینی دی، دی دری سره وو په خپلوکی فیصله وکړه چی هرسړی دی دخپل یونیک عمل په واسطه سره دعاء وغواړی کیدی سی چی دهغه دبرکته موږته نجات ملاوسی، نوپه هغو کی یوه سړی (دچاچی دلته ذکر مقصود دی) دادعا وکړه چی یا الله ! تاته معلومه ده چی زه روزانه رمه ځروم دشپی چی واپس راسم نوشیدی ولوشم اوپه موز اوپلار باندی یې وڅښنم، دهغه

وروسته یې خپلو ماشومانو ته ورکوم، یو وخت ماښام په تک راتګ
کې ناوخته سوچې کورته راورسیدم نومور اوپلار مې بیده سوي وه،
چې شیدې مې ولوشلې نو ماشومانو مې غوښتل شروع کړل لیکن ما
وویل چې ترڅو پورې مې مور اوپلار نه وي چیښلې تاسې ته یې نه
درکوم، اودهغو بیداره کول مې مناسب نه وګڼل دشیدو پیاله په
لاس سرته ورته ودریدم چې کله بیداره سي نو ورباندې وبه یې
وچیښم ماشومانو راته زارې کولې تردې پورې چې سهار سو، چې
کله هغه راپورته سول نو مې (شیدې) ورباندې وچیښلې، بیامې
ماشومانو ته ورکړې، یا الله، ددې عمل په وسیله سره دعا کوم چې
لاره راکړې، نوهغه کاڼې لږ لیرې سو، چې په هغه سره لږهوا راتلل
شروع سوه اورڼا سوه، لیکن وتلې نسوه، دغه رنګه دوهم اودریم
سړي دخپل خپل نیک عمل واسطه وکړه اوهغه کاڼې دغاره څخه
لیرې سو اولاره ورته ملاو سوه.

دحضرت موسٰی ﷷ دجنت ملګری :

حضرت موسٰی ﷷ دعا وکړه چې یا الله په جنت کې به څوک زما
ملګری وي هغه راوښیې، الله ﷻ ورته وفرمایل چې په فلاني ځای
کې دا قسم سړی دی هغه ووینه چې په تلاش تلاش هلته ورسیدی

Download from: www.aghalibrary.com
Scanned by CamScanner

نوری لیدل چی یوسړی دی او دهغه مور بالکل بوډۍ شله دګرځیدلو اوحرکت کولو څخه معذوره ده، داسړی محنت او مزدوری کوله او روزانه دواړه وخته به یې خپل مورته په خپل لاس سره ګوله ورکوله او دهغې ټول خدمت به یې کوی اوهغې به ورته ددی خدمت په هکله کی دعا کوله چی زویه ! الله دی تاپه جنت کی دموسٰی علیه السلام ملګری جوړ کی.

چی مور ناراضه وی نو په ځکندن کی کلمه پر ژبه نه جاری کیږی :

درسول الله ﷺ په زمانه کی یوځوان سړی ومرګ ته نژدی سو، رسول الله ﷺ تشریف راوړی اودکلمی تلقین یې ورته کی لیکن دهغه پرژبه کلمه نه جاری کیده حضور ﷺ پوه سوچی مور ترینه ناراضه ده، بیایې دهغه مور راوغوښته او ورته یې وفرمایل چی آیا ته غواړی چی ستا زوی ددوږخ په اور کی وسوځی ؟ هغې وویل چی یا نوورته یې وفرمایل چی دزوی څخه دی کمه غلطی سویده هغه ورمعاف کړه، او دده څخه راضی سه، نوهغې زوی معاف کړی او دزوی په ژبه یې کلمه جاری سوه، بیا وفات سو، وګوری دمور په ناراضګی باندی څومره وبال راځی .

Download from: www.aghalibrary.com
Scanned by CamScanner

سوالونه او جوابونه:

دواده متعلق بعضو دوستانو دډیرو خبرو پوښتنه کړی وه، او څه خبری داسی وی چی دسوال اوجواب په طور باندی دهغو دمرتب کولو فائده محسوسه سوه نوهغه خبری دسوال اوجواب په انداز باندی بیانول کیږی.

سوال: سړی ځوان سو اودواده سخته تقاضا ده لیکن مالی گنجائش ورسره نسته نودی څه وکړی ؟

جواب: رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چی دروژو مداومت دی وکړی، یعنی روژی دی ډیری نیسی نو ان شاء الله دشهوت زوربه یې کم سی، او دغلطو کارو څخه به محفوظه اوسی (خیال دی وی چی روژی دخوراک دکموالی سره ساتل پکاردی چی نس څه خالی اوسی چی ددی فوائد حاصل سی).

سوال: دقریبی رشته داره (خپل، قریب) جینکی سره (کومه چی غیرِ محرمه وی) نکاح کول جائز دی ؟

جواب: کومی ښځی چی محرمی نه دی (دکومو سره چی شرعًا نکاح کول حلال دی) دهغو سره په نکاح کولو کی هیڅ حرج نسته اگر که نژدی رشته دار وی لکه دتره او دماما لونی.

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

سوال: درخصتی په موقع حُجرهٔ عرسی یعنی دناوی کمره بنهٔ ډولی کیږی اوپه خلاص زړه وربانذی پیسې خرڅ کول کیږی آیا. دا صحیح ده ؟

جواب: اسراف او فضول خرچی حرامه ده ، هو لږ ډیر زینت او دهغې په ښه جوړولو کی څه حرج نسته .

سوال: دکوزدې ښځه وروسته دواده ښځه مخ کی دپیغلې سره میل میلان، خبری اتری کول او هغې ته کتلی سی ؟

جواب: صرف دنکاح کولو په اراده سره اجنبی (پردئ) جینکۍ ته کتلی سی که خوښه یې سی نو کوزده ورسره وکړی، بیا بار بار ورته کتل جائز نه دی، ترڅو پوری چی نکاح ونسی دنکاح ښځه مخکی هغه اجنبی (پردئ) ده ، ددې دپاره تعلق قائمول، خط، کتابت ورسره حرام دی .

سوال: دماشوم پیدا کیدلو په وخت کی په هسپتال کی داخلول څنګه دی ؟

جواب: که چیری بیماره سی یا پر کور باندی دصحیح علاج بند وبست نه وی یا ورسره دخیال کولو خوک نه وی او یقین یې راسی جی په کور کی به ماشوم ته یا مورته به یې تکلیف وی نو هسپتال ته

Download from: www.aghalibrary.com
Scanned by CamScanner

په ورلو کی هیڅ حرج نسته ، خو دمجبوری لو ضرورت ښځه بغیر بنه نه دی.

سوال: دښځه مصلحت په وجه نسل بندی کول او داولاد سلسله ختمول څنګه دی ؟

جواب: نس بندی اود خطرناکو دوایانو استعمالول جائز نه دی، البته عزل او دوقتی مانعِ حمل دوایانو اجازت سته (هغه هم چې په وخت دمجبوری کی وی) په دې شرط چې په هغه سره ښځه نقصان نه کیږی .

سوال: که خاوند دخپلی ښځی ښځه ناراضه سی نو آیا طلاق ورکړی ؟

جواب: دطلاق دمجبوری درجه ده، ړومبی دوخت تیرولو کوشش پکار دی که زیات جنګ او جدل راسی نو مصالحت دی پکښی وکړل سی که دا نه وی نو بیا دی ددوستانو او مخلصینو سره دمشورې ښځه وروسته دمجبوری په حالت کی طلاق ورکړل سی، که نه وی نو سراسر پښېمانی به وی .

سوال: دورځی دبی بی سره صحبت کول اوپه کثرت صحبت کولو کی څه حرج خو نسته ؟

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

جواب: دورځی صحبت کول جائز دی لکه څنګه چی دشپې جائز دی اوکه په صحت باندی اثر نه پرېوزی نوپه کثرت سره په جماع کولو کی هیڅ حرج نسته البته دخپل صحت ضرور خیال ساتل پکار دی .

سوال: دنامه څخه دلاندی وربښتانو دصفایی موده څومره ده ؟

جواب: په پنځلسو ورځو کی دی وکړل سی اوڅلوېښت ورځی یې آخری حد دی، ددې څخه وروسته به ګناه وی .

سوال: دوربښتانو صفایی به په کومه طریقه کوی ؟

جواب: په کوم مشین یا مروجه آلاتو وغیره سره چی وربښتان صفا کیږی دهغه په استعمال کی بدیت نسته ، ښځی دی چونه یا پوډر استعمالوی په کومو سره چی وربښتان صفا کیږی .

سوال: دغه وربښتان به کوم ځای غورځوی ؟

جواب: ښخول یې پکار دی دلته او هلته دی یې نه غورزوی .

سوال: ښځه به دسر وربښتان څومره ساتی آیاپرېکول یې جائزدی ؟

جواب: ښځی ته دسر وربښتان ساتل ضروری دی، او دا دهغې دپاره فطری زینت هم دی، دهغې دپاره خریل یا پرې کول جائز نه دی او دسرو غوندی وربښتان ساتل ور لره نوره هم سخته ګناه ده .

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

سوال: دورښنتانو ږمنځولو څه طریقه ده ؟

جواب: په حدیث کی راځی چی رسول الله ﷺ به چی کله ږمنځول کول نواول به يې درسته طرف وروښتان ږمنځول بیا دچپ طرف دا ، خو دسر دوروښتانو بالکل په مینځنی حصه به يې لاره هم ایستله ، دغه طریقه سنت ده.

سوال: ښځه وروښتان ښکاره کولی سی ؟

جواب: دښځی وروښتان هم په ستر کی داخل دی، ددغه وروښتانو پټول ضروری دی په دې وجه پړونی وغیره دی په داسی طریقه پر سر کوی چی وروښتان يې ښکاره نسی که نه نو سخته ګناه به وی.

تمت

مترجم :

ابو مزمل آخند زاده

تصحیح :

مولانا حافظ محمّد أحمد الحقّانی الافغانی

مکتبه رحمانیه ، کاسی روډ ، کوټه

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner

Download from: www.aghalibrary.com

Scanned by CamScanner